مورچل

دعظمتونو وارث :
عالیقدر امیرالمؤمنین رحمه الله

دامیرالمؤمنین په حیث دملا اختر محمد "منصور" حفظه الله تاکنه یوه تاریخي بریا!!!

نهم کال اوومه، پرلپسې ۸۳ یمه گڼه، رمضان المبارک، شوال المعظم، ۱۴۳۶هـق جولای ۲۰۱۵م

محترم ملا اختر محمد "منصور" داسلامي امارت دزعیم ، شیخ الحدیث مولوي هیبت الله اخندزاده
او محترم ملا سراج الدین "حقاني" مرستیالان تعین شول

- سقوط وفروپاشی محتوم اداره کابل
- دبیعت نصاب اودامیرالمؤمنین دوفات خبر پټ ساتل !!
- عالیقدر امیرالمؤمنین اودنوي زعامت په هکله زمونږ مسؤلیت!!
- عمر ثالث په خپرو جوتکړو کې!
- دطالبانو سیاسي بصیرت، نوی زعامت اومخالفت!!

" ...هغه چې په قندهار کې د خپلې واکمنۍ له مرکز څخه په خپل موټرسایکل د افغانستان د مغرورو غرونو په خوا روان و، په تندي يې له الله پرته بل چاته د سجدې خاپ نه ښکاربده"



مورچل

نهم کال اوومه پرلپسي ۸۳ یمه ، رمضان المبارک او شوال المکرم ۱۴۳۶ هق، جولای ۲۰۱۵ م

علمي، سیاسي او جهادي میاشتینی خپرونه

لړلیک

ګڼه	مطلب	مخ
1	دامیر المؤمنین په حیث د ملا اختر محمد منصور ..	۱
۲	داسلامی امارت دنوی امیر د تاکلو په اړه د	۳
۳	عالیقدر امیر المؤمنین او د نوی زعامت په هکله ..	۴
۴	دطالبانو سیاسی بصیرت ، نوی زعامت او	۱۳
۵	دبیعت نصاب او د امیر المؤمنین دوفات خبر	۱۷
۶	حرکتي تیندک	۲۰
۷	امیر المؤمنین دعظمتونو وارث ...	۲۲
۸	عمر ثالث په خیر و جونګړو کی .	۲۵
۹	سقوط و فروپاشی محتوم اداره کابل	۲۸
۱۰	دالجزیري مخکښ خبریال تیسیر علونی	۳۰
۱۱	ملا عمر و کوچید !	۳۵
۱۲	ملا عبدالحی مطمئن په یوه مرکه کی....	۳۸
۱۳	مقاصد و اسرار حج .	۴۳
۱۴	شهیدي قافلي	۵۱
۱۵	دتاریخی هسپانیا دغرناطي یو مسلمان شوي ..	۵۳
۱۶	داسلام غزاوات او سرایا	۵۶
۱۷	کلیسای غرب وعملیه ء رهبر سازی	۵۹
۱۸	د دیموکراسی په ظلمت کي داساسیي او اسلامي ..	۶۶
۱۹	درحلت دردونه درحمت تر سیوړ و لاندې	۶۹
۲۰	دثالث عمر په یاد کي	۷۴
۲۱	میاشتني خبرونه	۷۷
۲۲	دمورچل وړمي	۷۸
۲۳	دتلفاتو جدول	۱۵۶

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

شکـــور (شفق)

کتـــنپلاوی

حـــسن خپل | ایـــوب صـــافی
حـــسن زوی | حکمت بغلانی
زبیر مـــسافر | حافـظ سعـــید

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل بنار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر

E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

د امير المؤمنين په حيث

دملا اختر محمد "منصور" حفظه الله تاکنه يوه تاريخي بريا

دعزم دپسرلنيو عملياتوپياوړی تداوم داسلام او خاورې پر غليمانو دومره دروند تمام شو، چې دهرځومره زغم او حوصلې سربيره يې بيا هم ونکړای شول ،چې داسلامي امارت دمجاهدينو پروړاندې له خپلې ننګونې تير،اوددوئ په چغ وپغ په اصطلاح دروغې سياسي ډيالوګ پايلو ته انتظار وباسي ،دکندوز ،هلمند،سرپل ،بغلان،بدخشان،تخار ،فارياب ،نورستان او نورو ولايتونوپراخه سيمې ، دولسوالیو فتحه ،دبې شميره وسلو او لسګونوشوبلو دغنيمت کولواود يوې ضربتي قوې دتهاجمي برید په بڼه بيرته دغلامې اداري دعسکرو او خارجيانو پرضد يې کارونه ،هغه هيښوونکې (عزم پايلې) دي ،چې د مکاردښمن خوب يې تښتولی اودخپلوشکست خوړليوعسکرو دمحاربوي مورال دلوړولو لپاره يې دګلم جم مليشو خونکار جنګ سالار او دغلامې اداري دارګ مرستيال دې اړويستی، چې دشمال ځينو سيموکې پخپلو بې نتيجو منډو ترړو باندې د تښتيدلو عسکرو مورال لوړ کړي .

دوينه ځښونکيو يرغلګرو خبرلوڅانو، زرخريدو نطاقانواوددوئ ددالرو په بسپنو چاغو شويو رسنيو ديوې بلې ناکامې حربې په توګه ، تل هڅه وکړه، چې داسلامي امارت درهبري شوری او دهيواد دنامتوعلماوو او مشايخو په سلا اود رايو په اتفاق داسلامي امارت دفقيد زعيم عالي قدر اميرالمؤمنين رحمه الله د ځای ناستې په توګه دمدبر شخصيت ملا اختر محمد منصور حفظه الله پرځای او پر وخت ټاکنه دکدر رهبري دغړو تر منځ داختلاف باعث وښيي ، دا متفق عليه قيادت يې ديوځوجزوي نادريو پر سر (خدای ج مکړه)په اختلاف چيلنج کړي او په مورچل کې د ناستو مجاهدينو په روحياتواغيزوښندي ،پداسې حال کې چې په اصطلاح ګردو مترقي غربي هيوادونوکې چې کله سياسي واک له يوه نه بل ته انتقاليږي او کوم سياسي ادلون بدلون راځي، نو نه يوازې داچې سياسي او نظامي مشران يې يو له بل سره دمخالفت چنې وهي، بلکې دلسګونو پلويانو په وژنو او ژوبلولو ددوئ سياسي لوبه پای ته ورسيږي ، او دنظرد اختلاف په پايله کې داسې يو حکومت باندې سره سلا شي، چې دولسي وګړو په وينو سور وي، دلته چې لله الحمدهيڅ کومه داسې پيښه نده ترسترګو شوي او دامارت ټول مشران داسلامي شريعت ددې اصل په رڼا کې چې { وأمرُهُم شُورى بينهم }او هم دمسلمان

خليفه دټاکنې د (اهل الحل والعقد دشورى) په بڼه له نوي زعيم سره دشريعت دټاکنيز اصل سره سم دبيعت مراسم په سوله ايزه فضاء کې ترسره او دسياسي او جهادي چارو واک په درست ډول انتقال شو،نوټول مسلمانان بايد دخښتن تعالى شکراداکړي او دا يوه تاريخي شيبه وبولي !

دې حساسو شيبو کې چې ټول شرق او غرب داسلامي امارت دې څو گوتو شمير مشرانوته ځير دي او ددوئ هره خبره ، هر موافق يا مخالف حرکت څاري او هر ساعت همدا موضوع ددوئ دخپرنيزو شبکودسرخط وي، نو شايد معمولي تيروتنه اولږ غفلت به هم مسلمه امت، افغان ولس اوپه تيره دمرحوم اميرالمؤمنين رح په مشرۍ سپين لښکرته (خداى ج مکړه)نه جبرانيدونکې زيان ورواړوي، او دې لاره لږه کوتاهي به هم دقيامت په ورځ دفدايي او استشهادي طالبانواو سرښندونکيو مجاهدينودونيو ځواب ونشي ويلاى !

دچارو دکارپوهانو په آندسږکال، ددې هيلې ډيرې څپاندې وي، چې گوندې مجاهدين به وکړاى شي، چې دکابل دحکومت تر واک لاندې زياتې سيمې فتحه او له امله به يې دغلامي اداري مرکزي هسته متزلزه او تر جدي فشار لاندې ونيسي، چې داحدس تردېره سم ختلى او دفتوحاتو قافلې دادى دهندوکش سر درو ته هم ختلې اود سپين غر او سليمان غر لمنې په قهرمانو مجاهدينو ډکې دي، ددې حساسې انگيزې په درک سره غليمانوسږکال پرله پسې دسترو سترو ولسوالیو سقوط په غبرگو سترگو وکوت، او هم يې دا وليدل، چې ددوئ په ډالرو روزل شوي عسکرې قشلې هره ورځ په درجنو درجنو له امارت سره يوځاى کيږي ،او خپلې امريکايي وسلې ورته سپارې، نو رومبى يې دقدرمن اميرالمؤمنين رح دوفات خبرې راپورته او بيا يې پسې په پلان شوي ډول ،د طالبانو په منځ کې ددرز او نفاق نادرست خبرونه په مزخرف قالب کې ورځايه او رسنيويې پرې شخوند وهل پيل کړل.

خو ترکومه ځايه پورې ،چې داشغالگرو او دکابل دکاواکې اداري حالت مطالعه کوو،له ورايه راته دامنډې ترړې ددوئ وروستۍ ناکامې هڅې اوماتې ارادې ښکارې ،دوئ اوس دسمندر په ساحل ولاړ او يا په سيندکې د ډوب شوي سړي په شان دي ،چې ځگ ته هم دخپل نجات لپاره لاس اچوي ،دوئ په نفسياتي لحاظ له برمه لويدلې، که څوک دملنډو وهلو په فکر ورته کومه دنجات خبره وکړي ،نو هم پسې ځغلي، او ددښتوسراب هم ورته د جل وهلې غوندې اوبه ښکاري ،خو حقيقت کې دا ددوئ دواک دځنکندن وروستۍ سلگۍ دي او نهيلې نه يو، چې انشاء الله تعالى باداران (امريکايان) به يې هم دويتنام دجنگ غوندې له ډگره په الوتکوکې دشپې مهال وتښتي، کله چې دارگ واکمن له خوابه راپاڅيږي، نو دوئ به واشنگټن ته رسيدلي وي او غلامان به يې ځانته دمجاهدولس احتساب ته پريښې وي !

راڅئ دخپل مسؤليت درفع لپاره داسې پريکړه وکړو،چې ترپايه به داسلامي امارت تر سپين بيرغ لاندې په ذات البيني وحدت پياوړې تعهد جهاد بدرگه کوو،او چاته به ددې اجازه نه ورکوو،چې زمونږ سپيځلي جهادي او اسلامي اهداف وگوابې او مقاصدو ته له رسيدو مو راوگرځوي ،څو مو خاوره له يرغلگرو پاکه او محمدي ص غراء شريعت پکې حاکم شي !!

د اسلامي امارت د نوي امیر د ټاکلو په اړه د اسلامي امارت د رهبري شوری اعلامیه

الحمدلله رب العلمین والصلوة والسلام علی رسوله محمد و علی آله وأصحابه أجمعین و بعد

مسلمانانو وروڼو!

لکه څنګه چې خبر یاست دافغانستان د اسلامي امارت مؤسس او زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمة الله علیه څه موده وړاندې د وړپیښې شوې ناروغۍ له امله خپل روح الله تعالی ته وسپاره او له دې دنیا څخه یې رحلت وکړ.

د نوموړي له وفات وروسته د اسلامي امارت رهبري شورا او د هیواد جیدو علماء کرامو اومشائخو د زعامت دټاکلو په چاره لاس پورې کړ، د اسلامي امارت د رهبري شوراغړو، مشائخو او علماء کرامو چې داهل الحل والعقد له شرعي اعتبار څخه برخمن و د یوې غونډې په ترڅ کې یې له اوږدو سلامشورو وروسته د ملامحمد عمر مجاهد نږدې او د اعتماد وړ ملګری او داسلامي امارت پخوانی مرستیال ملا اخترمحمدمنصور د اسلامي امارت دامیر په حیث وټاکه.

ملااختر محمد منصور چې د مرحوم ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله لخوا هم په خپل ژوند کې داعتماد وړ او د درانه مسئولیت د تحمل لپاره وړ کس بلل شوی وو او په کلونو د اسلامي امارت ټولې اجرایوي چارې ورسپارل شوې وې، داسلامي امارت رهبري شورا او علماء کرامو هم نوموړی د راتلونکي لپاره د افغانستان داسلامي امارت د رهبری لپاره مناسب او مستعد شخص وباله او دشرعي امیر په حیث یې غوره کړ.

د زعیم ټاکلو په غونډه کې د علماء کرامو، مشائخو او اسلامي امارت د مشرانو لخوا له ملااخترمحمد منصور سره د امیرالمؤمنین په حیث علی السمع و الطاعة بیعت ترسره شو او نوموړي هم د شرعي امیر په حیث، شریعت ته دالتزام تعهد وکړ.

همدا راز د یادې غونډې په مشوره او تائید هر یو د اسلامي امارت د محاکمو پخوانی عمومي رئیس شیخ الحدیث مولوي هیبت الله اخندزاده اود مشهورجهادي او علمي شخصیت مولوي جلال الدین حقاني حفظه الله زوی داسلامي امارت پیژندل شوی جهادي قومندان ملا سراج الدین حقاني د اسلامي امارت د مرستیالانو په حیث وټاکل شول .

د اسلامي امارت رهبر ي شورا د اسلامي امارت دغه تعین شوي زعامت ته دالله تعالی له دربار څخه د استقامت،امانت داری او الهي شریعت ته د وفاداری خواست کوي، او مسلمان ملت په خانګړي ډول د اسلامي امارت ټول مجاهدین یي د شرعي امیر په حیث اطاعت ته رابولي.

د افغانستان د اسلامي امارت رهبري شوری

۱۴۳۶ هـ ق کال د شوال المکرم ۱۴مه

۱۳۹۴هـ ش کال د اسد ۸ مه

۲۰۱۵میلادي کال د جولای ۳۰ مه

(بت شکن)

عالیقدر امیرالمؤمنین

او دنوي زعامت په هکله زمونږ مسؤلیت!!!

دهیواد دبوډنووکي او ویرجن حالت او دهیوادوالودسوکالی لپاره دافغانستان په افق کې دطالبانوداسلامي غورځنګ ظهوراوتوپک سالارانو سره داحتساب ګرندی بهیر لاهماغه مهال، ددې اوسني پیریوه معجزه وبلل شوه، چې په (۱۴۱۵هق دمحرم الحرام په ۱۵) کال کې داسلام دخادم امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهدصیب رحمه الله تعالی په مشری کندهار کې داسلامي امارت تاسیس اودبنسټ ډبره یې کښیښودل شوه،نومورې خورا مدبرانه او معقول قیادت هیواد له جغرافیوي تجزیې ،پاتک سالاری،رقص مرده، فحاشیو، قماربازیو، تنظیمي جګړوڅخه خلاص او دهغوعفیفو ناموسونو دساتنې سپر شو،چې له املهبه یې کابل ښار مکرویانو کې زمونږپاکو خورګانوخپل ځانونه ددریم او څلورم پوړنه لاندې ځمکې ته راغوځول،ترڅو دهغه توپکوال له بې عزتی نه ځان دمرګ کومې ته وسپاري، چې دهمدې ناسپیڅلې هدف لپاره پسې ورغلی دی.

شک نشته چې دافغانستان په تاریخ کې قدرمن امیرالمؤمنین رح دزړوتیا ،دیانت اودشریعت پالنې داسې زرین بابونه جوړاوراتلونکې تاریخ کې یې ځانته دومره لوړ ځای پریښود ،چې دسترا احمدشاه بابا ،میرویس خان هوتک غوندې به یې مسلمان ولسونه په کارنامو وویاړي، او دغینو کارپوهانوپه آند تاریخ لیکونکي به یې دادومره ډیرې کارنامې دخپل حجم ،تکثر او افاقیت له املهسې یوه خیالي افسانه وبولي او دمشرملا صیب داد دومره ډیرې شاهکاری ،اتلولی او جهادي نبوغ به ورته له حقیقت نه لیرې ښکاره شي ،خو واقعیت به همدا وي چې څښتن تعالی دادومره ښیګڼې دهمده په وجود کې نغښتې او دهمده په لاس ترسره کړې وي اوتاریخونه به پرې هغه وخت منصفانه فیصله یا

قضاوت وکړي ،چې کله دثور د (۱۳۵۷)مې کودتاه نه راپیل شوی ظالمانه اړو دوړپای ته ورسیږي او دتاریخ لیکلو بې طرفه کرکیټران دښکیلاکي او مزدورو هغو ځای ونیسي !

دا ربښتیا وه، چې محترم امیرالمؤمنین رح نه لندن او واشنګټن کې کومه ماسټرې یا دکتورا اخستې وه او نه دځینو سیاست پوهانو غوندې یې په پنځو او شپږوزبو خبرې کولې شوې ،نه دځینو سیاستمدارانو غوندې مکار،چالاک او حیله بازمشرو، او نه یې هم دچوکی لپاره دومره کمپاینونه ،ستومانی اوستونزې پرځان تیرې کړې وي، څوځانته دګټې په کتاب کې یو نړیوال ریکارډجوړ او ځان نړیوال هیرو کړي ،بلکې دده ښایست او زیبایي ،دده ژوند او کلام ساده ګي وه ،دده ولسي محبوبیت دده دینداري ، تقوی او دجهاد په مستقیمه لار نقشه استقامت او نا متزلزل قیادت و، دا دده هغه ځانګړتیاوې وي، چې نومورې یې له محلي ولسي قیادته تر نړیوال قیادت پورې بدرګه او نن ورته دنړۍ مسلمانان او جهادي حرکتونه دامیرالمؤمنین خطاب کوي .

ویډیویې کلیپونو کې له ورایه ښکاري، چې کله دالجزایر،عراق او شام فدایي مجاهدینو به کومه استشهادي حمله کوله ،نو دخپل لومړني پیغام په سرکې به یې، رومبی پر محترم امیرالمؤمنین رح باندې سلام او بیا به یې یه شیخ اسامه رح باندې سلام ووایه اوبیا وروسته به یې قدایي بریدترسره کړ ،همداسې دملاصیب رح له وفات وروسته ډله ایزو رسنیو کې ،صومالیا، دمصردالازهر پوهنتون ،شام ،عراق ،فلسطین ، پاکستان ،کشمیر، او نورې اسلامي نړۍ مسلمانو مجاهدینو غائبانه جنازې ،دنومورې روح ته دعاګانې ،دده په باب خپل نیک تاثرات او دده دشجاعت په برکت دطالبانو لښکر دخپل سرتاج وباله او خپله همبستګي یې ورسره ښکاره کړه !

دمحترم امیرالمؤمنین رح کارنامې ډیرې دي، خوهغه یې چې ډیرې مشهورې اودنړیوال کفري ښکیلاک زړونه یې پرې چولي څو یې دیبلګې په ډول را اخلم :

۱-دافغانستان علماء او طالبان چې دروسانو دیرغل پر وخت په اووګونو جهادي تنظیمونو کې ویشل شوي وو، دامیرالمومنین رح په هڅو او برکت دادی نن ټول په یوه صف کې ولاړ دي او دمسلمانانو نړیوال قیادت کوي ،نن نه دې علماوو او طالبانو کې داووګونو ګوندونو تنظیمي روحیه شته او نه ګوندي رقابت، بلکې نن ټول روحانیون

،علماء او طالبان دير غلګرو په وړندې واحد قوت دی.

۲-بامیانو کې دبودا مجسمې چې ځینې ناخبره خلک ورته فرهنګي میراث، خو له آره (دشرک بتکدې وي)، چې نړیوال به یې زیارت او بودایان به یې عبادت ته راتلل، او ځینو به یې د سیاحت په پلمه ترځنګ له شرکي افعالو نه علاوه فحاشي هم کولې په بشپړ ډول ونړولې او دشرک دا هډه یې چورلته ختمه کړه، راته یاد دي، چې کله یې دا دبودا مجسمې ونړولې او ددې دپاتې کیدو لپاره یې نه دچا پیسې قبولې کړې او نه دا معزز مشر دکوم ښکیلاکي ملک له تهدیدنه وویرید، نو دمګړی یې والیانو ته رسمي مکتوبونه ولیږل، چې هر والي دي دبوتانو ماتیدو کې ددومره ځنډ له امله دکفاري په پار څو څوغوایان حلال کړي او غوښې دې یې په مسکینانو وویشي، دایې ایمان، توحید او دیانت وو.

۳-دیوه عرب مسلمان مجاهد شیخ اسامه بن لادن رح څخه بشپړه ننګه او دامریکا یي فرعونیت ته غوڅ منفي ځواب، تردي چې په (۲۰۰۱ز) کال کې دامریکا په مشري دنړۍ کفارو ورته اشر وکړ، او-۴۸) کفري هیوادونو په ګډه ددې اتل مجاهد لښکر پسې افغانستان ته راغلل، چې دادی ددې امیرالمؤمنین رح په مشري امریکایان مات او پاتې شونې یې هم دمرګ په ساحل ولاړ دي.

۴-درومبي ځل لپاره دمعاصرافغانستان په تاریخ کې دهیواد رسمي تاریخونه له شمسي څخه هجري قمري ته واړول شول اودهیواد مسلمان خو له خپل نوي یااسلامي میراث (هجري تاریخ) نا بلده دولتي مامورین پدې مکلف وګرځول شول، چې نور دې په رسمي مکاتبو او کلیزو کې هجري تاریخ لیکي، چې دادی ترنن پورې همدا لړۍ فرهنګي کمیسون تعقیبوي، همداسې له ولسي وګړو هیرشوي دیني اصطلاحات او اسلامي پرمحتوی کلمات راژوندي شول، لکه، بیعت، خلافت، امیرالمؤمنین، اهل الحل والعقد، په رسمي کچ نامسلمانو عناصرو ته دکفارو کلمه کارول، دشرعي نظام عملي تصویر، دافغانستان په تاریخ کې درومبي ځل لپاره دیوه دیني عالم سیاسي قیادت ترویجول، اوداسې نور.....

۵-ددې دول شاهي رژیمونو، کمونستي، مجاهدنما نظامونو څخه وروسته لومړی ګران هیواد کې شرعي قوانین پلي شول، حدود تطبیق شول او دتقنیني، اجرایوي اوقضایي قوو په ګډون ټول قوانین او لوایح دشریعت په رڼا کې ورغول

شول ،اوپه عین وخت کې نړۍ ته داسلامي شریعت یوه ځلانده بیلګه هم وړاندې شوه .

۶-دچیچین دمجاهدینو پـه لاس دچیچین فتحه او په یوازې ځان دچیچین داسلامي حکومت په رسمیت پیژندنه ،هغه تاریخ جوړونکې کارنامه ده، چې دقفقاز دمسلمانانو جهادي روحیات یې لوړ اوترځنګ یې دازبکستان ،تاجکستان او دچین دترکستان په مسلمانانو کې هم دجهادي پاڅون او خپلواکۍ ساه پوه کړه او همدا ملاصیب رح و ،چې دخپل هیواد دنـاخوالو سـربیره یـې ددې فـوق الذکرمسلمانو ولسونو لاس نیوی وکړ.

۷-دخراسـان بـزرګ او خراسـان جدیـد دهوادارانو هڅې یې په بشپړ ډول له خاورو سره خاورې کړې او دستر احمد شاه بابا رح پـه لاس دمعاصر متحد افغانستان جغرافیه یې له تجزیې او ویش نه وژغوله .

۸-هیواد کې څوارلس کلن جهاد نه وروسته دقومیت ،سمت او ژبې په نامه بل شوي اورونه یې مړه کړل او ټول افغانان، که دشمال وو ،که دجنوب ،دختیځ وو ،که دلویدیځ، داسلامي نظام(اسلامي امارت) ترسیوري لادې سره راټول او دپردیو په اشارو دبغض او حسد اورونه یې دتل لپاره مړه کـړل ..... لنـډه داچـې محتـرم امیرالمؤمنین دخپل ځان یـو بنـه مثال وو ،اونـه یوازې افغانانو ته بلکې دنړۍ مسلمانانو ته یې په خپله مشرۍ کې هغه خدمات انجام کړل چې په رحلت او وفات یې نه یوازې افغانان بلکې دنړۍ ټول مظلوم مسلمانان کوندې ،یتیمان او هغه څوک ژاړې چې تل به یې دخپلو اوښکو دووچولو لپاره په همدې ځـان خوشحالوه چـې دادی دعمـر ثالـث امیرالمؤمنین په مشرۍ دطالبانو لښکر راوان دی او ډیر ژر به مو ددې صلیبي یرغلګرو څخه خلاص کړي او .....او.....او.....

دمشرملاصیب رح خبرې روانې او په لنډو اوکوتاه جملو کې به مخاطب تـه ځواب ورکـاوه ،دامریکایـانو دیرغـل دګوانبـونو پـه شـیبو کـې خبرالانوتـه ځواب کې ویـل چې ،مادیوه مسلمان لپاره خپل سلطنت له لاسه ورکړ/ملاصیب تـه چا وویـل، چې امریکایان وایي موږ له اسمان نه نیم اینچ شی ګورو. ننبـه رانـه نـه خطا کیږي. وایـي ملاصیب وویـل : دا د دوی وعدې دي، مګر زموږ رب ج هم وعدې کړي، ګورو، چې د چا وعده حقه ده. دوی دې خپـل کـار وکـړي، مـوږ بـه خپـل کـار کوو. /دا نو شاهي نظام نه دی، چې تاسې راشئ، مـوږ بـه درنـه لاړ شـو. دلتـه مجاهـدین دي، مـنظم قطعات دي، غرونو ته به درنه وخیژي، هسې به ځان

هم خراب کړئ او مو وژ هم. /دوئ (امریکایان) به خپل کار کوي مونږ به خپل کار کوو..... داخترد ورځي په خطبه کې د کندهار ولس ته وویل چې : زه خپله مشري کې داسې کار ونکړم چې راتلونکو نسلونو ته پیغور شي .....یوه بل تقریر کې علماوو ته وویل چې : ای علماوو غټه دعوی مو کړې ،راشئ ،که نه د قیامت په ورځ به زما لاس او ستاسو ګریبان وي ..... بس هره خبره یې یوه وجیزه زرین باب او دیوې مقالې سر لیک وي رحمه الله تعالی د جعله الله قبره جنة من ریاض الجنة !

دقدرمن امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد رح په باب دنړۍ دځینو پوهانو تاثرات:

د مصر الازهر نړیوال پوهنتون استاد محمود الشاني پر خپل تویټر پاڼه لیکلي دي:

چې امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد په اوسنۍ نړۍ کې یو بې مثله خپلواک ، پر خپلو خواهشاتو حاکم او د اسلامي نړۍ یو دردمند واکمن و ، هغه ستر ګي ډیر مبارکي دي چې دا منوره څېره یې پرې لیدلي ده . الله ج دې رحم پرې وکړي.

یوه بهرني لیکوال ملاصاحب داسې تعریف کړی:

(هغه د اسلام په خاطر خپله جوړه پاچاهي قربان کړه او په وروستۍ ورځ چې په قندهار کې د خپلې پاچاهۍ له مرکز څخه په خپل هوټل موټرسایکل د افغانستان د مغرورو غرونو په خوا روان و، نو په تندي یې له الله پرته بل چاته د سجدې خاپ نه ښکارېده)

دشام یو عالم او تکړه لیکوال عبدالله محمد المحیسنی:

ملا عمر وکوچید ! له هغه وروسته چې دیوه مسلمان لپاره یې خپله پاچاهي ځار کړه، داسې کارنامې یې ترشا پرېښودلې چې شاید راتلونکي نسلونه وربانديې د خیالي کیسو ګمان وکړي.

هغه په لسان حال سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا حدیث ولوست :مسلمان د مسلمان ورور دی ،نه به یې د بښمن ته سپاري او نه به ظلم وربانديې کوي، نو زه هم مسلمان یم خپل مسلمان ورور اسامه کافر ته نه سپارم،پدې اړه په باریکو مسئلو پسې ونه ګرځید، چې د مصلحتونو په باب کې د ځان لپاره لار پیدا کړي.

ملا عمر وکوچید ! نو موږ له هغو لږ کسانو څخه وو ،چې زما د زړه دا ارمان وو، چې تر هغو مړ نشم ،چې د هغوی په لیدلو مې سترګې نه وي یخې

شوې، نو ای الله !ته مو له هغوی سره په جنت الفردوس کې یوځای کړه.)

دالجزیرې مخکښ خبریال علوني :

علوني: لومړنی خبره خو دا ده، چې سړی د پر درونو او بارعبه مشرو، خپلو همکارانو او کشرانو سره یې تعامل د پام وړ و.. ملا محمد عمر سره د لیدو پر مهال مې فکر وکړ، چې زه د یو ربستیني حاکم په حضور کې یم او سره له دې، چې واکمني یې د هره ساده او له هر ډول رسمیاتو خالي وه، مګر بیا یې هم په جلسه رعب د پر زیات و.

دامیرالمؤمنین رح ملاقات ته دجماعت اسلامي دورغلي پلاوې تاثرات :

موږ سفر ته د پر تیاری نیولی و. زیرک او تجربه کار وفد مو برابر کړی و. دوه درې ورځې مو د ملاصیب لیدو ته انتظار وکړ. کله، چې د ملاقات شېبې راورسېدې، زموږ د پخوا و خولورو ستړو اروا وې والوتې..

وایي موږ د نړۍ د رهبرانو د تکلفاتو فکر کړی و، مګر د هره ساده ودانۍ کې او د پر ساده لباس کې یو معزز، مرعِب او چوپ انسان سره مخ شوو. وایي زموږ وفد، چې سخت متاثره و، نو زموږ پخوانطاقانو او خبرلوڅو هم خپلې خبرې منظمې ونه کړی شوې..

وایي موږ د نړۍ حسابونه ارزولي وو. په سیاستونو وغږېدو. ستراتیژۍ مو ورمخې ته کړې، د خبرو جریان کې ترخه هم راتله او خواږه هم، مګر د دې مو قر انسان تندی نه په خوږه له خپل حالته بدل شو، نه په ترخه ګونځې شو. وایي کله مو چې خبرې پای ته ورسېدې، د پر لنډ ځواب یې راکړ: ستاسو خبرې پر ځای دي، خو موږ د غسې فکر نه کوو. زموږ لار بېله ده.

د پلاوي د تاثراتو په هکله د لیکوال تبصره دا وه، چې څوک دین ته کار کوي، هغه باید د ملاصیب په څېر همغه ډول فکر وکړي، چې دین ته پرې کار کیږي، نه دا، چې زموږ د تنظیمونو په څېر د دین په نوم، د دین مخه ونیول شي.

نامتو لیکوال استادمزمل :

استاد مزمل ځوانو لیکوالو ته یو مجلس کې وویل:

چې زه په مجلسونو او ملاقاتونو کې نه د اړیږم، خو ملاصیب ته، چې ورتلم، پښو مې زور نه اخیست او هغه څه مې، چې ویل غوښتل سم مې ونه شو ویلی..

ستاد ښایست ګلونه د پر دي
ځولۍ مې تنګه زه به کوم یو تولومه

داسلامي امارت نوی زعیم

محترم امیرالمؤمنین ملا محمد محمد عمر مجاهد رح لا په ژوند کې داسې یو څوک دخپل مرستیال یا ځای ناستې په صفت تاکلی و ،چې خورا ډیر باتدبیره ،سنجیده ،په جهادي او علمي روحیه سنبال او قایدانه صلاحیتونه یې په ځانګړي ډول درلودل ،قدرمن (ملا اخترمحمد منصورصیب) هغه څوک دی، چې مرحوم ملاصیب پرې ژوند کې دامارت دسرپرستۍ باور لاره، نو ځکه خو دامارت رهبري شوری او مشایخو عظامو چې د (اهل الحل والعقد) تشکل یا بڼه یې لرله، دا نوموړی داسلامي امارت زعیم وټاکه او بیعتونه یې ورسره وکړل.

ربښتیا هم چې درهبري شوری دا پریکړه پرځای او داوسنیو حالاتو په تناظر په سنجیده ګۍ سره شوې ،اسلامي امارت نن سبا ډیرو مشکلاتو سره لاس وګریبان دی، داخل کې هم د داعشیانو فتنه په زرغونیدو ده او دجګړې مقابل لوری یې یوازې او یوازې طالبان په نښه کړې ،دفتوحاتو لړۍ هم تنده روانه ده، چې له املهیې دځینو هیوادونو ستر ګې بریښولې او لګیا دي، څو اسلامي امارت ته ستونزې جوړې کړې ،همداسې یې دمذاکراتو خبرو هم مارکیټ تود کړی ،که دنظامي او جهادي جهته دهیواد فتحه شوني ښکاري، خونړیوال یرغلګر چې مجاهدینو یې افغانستان کې برم مات کړی،اودوئ ددې برداشت نلري، چې امارت اسلامي دې دنظامي لارې واک ته ورسیږي، نو ځکه کوښښ کوي ،چې دنورو لارو نه کار واخلي او مجاهدین هدف ته پرینږدي ،داسلام دلواء یا بیرغ دهسکولو په خاطر سوله کول کوم جرم ندی، خو اسلامي امارت دسولې لپاره یو لړ داسې معقول شرطونه لري، چې نړیوال ښکیلاکګر یې بیا نه مني .....

نړیواله میډیا او ګمارل شوي ګوډاګیان یې شپه اوورځ پدې کار کوي، چې خلکو ته جوته کړي ،چې (خدای ج مکړه) داسلامي امارت رهبري شوری کې اختلافات پیدا شوي او دمحترم منصور صیب په زعامت دطالبانو اتفاق نشته ،ددې ادعی دزباد لپاره دځینو استخباراتي کړیو له پسپسکې او نیمچه معلوماتو څخه پیدا شوي خبرې دیوه پاخه سند په حیث وړاندې کوي ،پداسې حال کې چې پخپله امریکا او نوره اروپا کې چې کله نوی زعیم ټاکل کیږي ، نو میاشتې میاشتې ورته انتخاباتي کمپاینونه ترسره کیږي ،ډیر خلک پکې ووژل شي او بیا ګټونکی شخص ډیر مشران او کشران دمشر په حیث نه مني، خو ددې سربیره بیا

هم ولسمشر اعلان شي ،امارت کې نه دا سې تاکنیز کمپاینونه شته ،نه چنې شته او نه پرې حتی یوه مسؤل بل ته ترخه خبره هم نده کړې ،خو غربي میډیا دومره داخبره پرسولې ،چې اوریدونکی ترې دیوه لوی پیښیدونکې بحران او غمیزې برداشت کوي.

داسې جزوي خبرې هر نظام او هر حکومت کې وي ،لومړی خو به هیڅ داسې کومه خبره نه وي ،که احیناً داسې څه وړه خبره وي هم ،زما په باور به ډیر ژر انشاءالله تعالی حل وفصل شي ،د حضرت پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم دوفات په شیبو کې چې کله له (سقیفه بني ساعده) څخه دا غږ جګ شو ، چې انصارو له (حضرت سعد بن عباده رض) سره بیعت وکړاو مهاجرین په (حضرت ابوبکر صدیق رض او حضرت عمر رض) باندې راغونډ شول ،حضرت علی رض ،حضرت زبیر بن العوام رض ....سره د حضرت فاطمې رض په کور کې ګوښه شول ،نو هماغه وو ،چې حضرت شیخین رض (سقیفه بنی ساعده) ته لاړل او هلته بالاخره د حضرت ابوبکر صدیق رض په خلافت انصار او مهاجرین راضي او بیعتونه یې ورسره پیل شول، بیا هم ځینې صحابه وو لاخپل بیعت له حضرت ابوبکر صدیق رض سره ترڅه وخته پورې ځنډولی وو ،چې دڅه وخت په تیریدو سره یې بالاخره بیعت وکړاو ټول سره، لکه دورونو غوندې خلافت کې راټول شول.

همدا هیله داسلامي امارت له ټولو مشرانو څخه شته ،چې ډیر نږدې به دې جزوي ستونزې ته دپای ټکی کیږدي او داسلام د دښمنانو زړونه به په خپل وحدت وچوي!

په شرعي لحاظ چې کله (اهل الحل والعقد) له چاسره دامیر په حیث بیعت وکړي، نو په نورو یې التزام لازم وي، ځکه بیعت علامه ابن خلدون په قول (العهد بالطاعة لاولی الامر) ته ویل کیږي او دا د ټولو مسلمانانو ذمه واري وي، چې خپل مسلمان امیر سره بیعت وکړي، چې د دې پرته به (خدای ج مکړه) له هغې وعید لاندې راشي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې په باب فرمایي ((عن عبد الله بن عمر ، قال : جاء ابن عمر إلى عبد الله بن مطيع ، فلما رآه قال: ألاأحدثك بحديث سمعته من رسول الله صلى الله عليه وسلم، سمعته يقول: «من خلع يده من طاعة لقي الله يوم القيامة ولا حجة له، ومن مات وليس في عنقه بيعة مات ميتة جاهلية»(الابانة الكبرى لابن بطة).

که هرچاییعت ونه کړ اوبی بیعته مړ شو، دده امیر به شیطان وی.. امام غزالی رحمة الله علیه فرمایي: ومَنْ لَمْ یَکُنْ لَهُ شَیْخٌ فَالشَّیْطَانَ شَیْخُهُ.ژباړه. امام غزالی رحمة الله علیه فرمایي دچاچی امیر نه وی اودی مړ شو نوشیطان دده امیر دی.

دامارت دمشرتابه لخوادامیر قبلول ځکه لازمي دي چې دوی کی اکثریت دعلماؤو وی اورسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي (لایجتمع امتی علی الضلالة). زما امت په ګمراهی نه راجمع کیږی .نودوی چې کوم نفر تاکي دې کې به لوی خیر وی.

داسلامي امارت نوي امیر دخپلې تاکنې اودزعامت دبیعت په رومبی خطبه کې دمشرملاصیب رح په تګلاره تعقیبولو او داسلامي نظام تر راتللوپورې په روان جهادي بهیر ټینګار او تجدید عهد وکړ،محترم منصور صیب په هغه رومبی وینا کې، چې دده بیعت ته عام علماء او مسؤلین ورغلي وو،په ځرګندو ټکیو وویل : چې مونږ به دجهاد له لارې اسلامي نظام راولو،دسولې په نامه خبرې غولوونکې دي او نه دیموکراسي دموضوع حل را ایستلای شي،((مونږ له شریعت پرته بل مسیر نلرو، دیموکراسی نه پکښې ځاییږي) .دانو هغه خطاب و،چې دلویدیځو رسنیو خبرلوڅانواو زرخریر دوژورنالستانو، لیکوالانواونطاقانویې په باب شخوند واهه او غوښتل یې چې، دسولې په نامه دپیل شوي پروسې په پلمه مجاهدین په روانې لحاظ نهیلې کړي او دنویو فتوحاتو او پرمختګونو مخه په همدې تبلیغاتو ونیسي ،خو له نیکه مرغه چې داسلامي امارت نوي زعامت دا ستونزه درک او په وخت یې ورته ځواب ووایه.

ښایې نور دچا سره دنوي داسلامي امارت دنوي زعامت په هکله دبیعت دځنډ کوم موجه دلیل او منطق نوي پاتي ،او مشران اوکشران ټول پدې مکلف دي، چې خپل بیعتونه له نوي زعامت سره وکړي او په خپل بیعت سره دکفارو ددسیسو مخه ونیسي !!!

موسی فرهاد

د طالبانو سیاسي بصیرت

نوی زعامت،او مخالفت

د طالبانو اسلامي غورځنګ له ابتداء نه تراوسه پخپله ۲۲ کلنی دوره کې خورا سخت ازمویښتونه وګالل. خو ترټولو شدید امتحان دوه خله ورباندي راغلی یو داچې د ۲۰۰۱م کال په وروستیو کې د امریکا په مشری صلیبي ائتلاف پر افغانستان یرغل وکړ او اسلامي امارت شاتګ ته اړ شو، طالبان سره وپاشل شول. د هیواد، سیمې او نړۍ د ټولو سیاسیونو او کارپوهانو له نظره طالبان نور د هستی له صفحې څخه لیرې شوي وو، د بیا راتلو چانس یې په هرصورت ناشونی ؤ.

دویم امتحان دا خل د امیرالمؤمنین ملامحمدعمرمجاهد د وفات خبر ؤ چې طالبانو په لومړي خل واورید، دلته هم خلګو ګمان کاوه چې نور نو د طالبانو د اسلامي حرکت په نوم بیړی په غرقیدو ده، بیا امکان نلري چې دا کښتی څوک له دوبیدو وژغورلای شي.

حقیقت هم همدا دی، که د انساني عقل له لیدلوري، ورته وکتل شي، دا دواړي د تاریخ داسي حساسي شیبې وي چې د خلکو اټکلونه باید هرو مرو سم ختلي وای، او د طالب نوم بیا چا اوریدلی نه وای.

داچې طالبان څنګه وتوانیدل، له لومړي خل ازمویښته په بریالیتوب سره را ووزي؛ په دې کې تر ټولو ستر رول د امیرالمؤمنین رحمه الله معنوي اثر ؤ، د هغه سیاسي بصیرت، سپیڅلتیا او ریښتینولي، له دین او خاورې سره اخلاص، د حق په لاره کې ثابت قدمي، د ستونزو په وړاندې متین عزم، د ایمان جذبه او افغاني غیرت ؤ چې مجاهدین یې له پاشل کیدلو، ورک کیدلو او تباه کیدلو وژغورل، د دوهم خل لپاره یې هغوی په خارق العاده ډول بیا منظم کړل، جهادی صفونه یې د بنیان مرصوص په شان داسي مضبوط کړل چې د هغوی د قربانیو په مټ یې بالأخره د دین او وطن دښمنانو یرغلګرو ته، نه هیریدونکی تاریخي شکست ورکړ. خو خپله یې په همدې لاره کې د وطن په غرو رغو کې خپل روح، خپل خالق ج ته په داسي حال کې وسپارە چې د شهادت ارمان یې د خالدبن ولید رض په څیر قبر ته ورسره یووړ، ژوند یې ټول د الله په لاره کې په غزا کې تېر شو خو د شهادت هیله یې پوره نشوه. ولي د همغه

ستر مجاهد صحابي اعزاز يې هرو مرو خپل کړ ، د هيواد د آزادۍ د تاريخي اتلانو مل شو . د تاريخ په پاڼه کې يې د غزنوي ، ابدالي او مېرويس خان غوندي خپل باب پرانيست . روح دي يې شاد جنة الفردوس دي يې مأوى . برکات او فيوضات دي يې پر خلفو او خای ناستو وي . آمين

دويم خل هم طالبان له يو سخت مشکل حالت سره مخ شول ، چې ناڅاپه يې د خپل رهبر د وفات خبر واورید او د هغه له معنوي سرپرستي څخه يې د تل لپاره خان يتيم احساس کړ . نړيوالو شيطاني رسنيو هم له موقع نه په ګټې اخيستو د زهرجنو تبليغاتو لپاره ښه تابيا ونيوله ، د مسلمانانو اذهان يې د لنډ وخت لپاره تسخير هم کړل ، خو بيا هم د طالبانو هغو مشرانو چې د ملامحمدعمرمجاهد له هدف سره مخلصين وو ؛ د ښه فراست او سياسي بصيرت څرګندونه وکړه ، دېر ژر يې د يوې لويې خلا او ورپسې د لويو لويو فتنو مخه ونيوله ، هغه داچې د نوي زعامت په انتخاب کې يې سستي ونکړه ، د اميرالمؤمنين په ژوند کې د هغه له لوري غوره شوى نائب يې د هغه خای ناستى وټاکه ، او د عامو مسلمانانو خصوصاً د مجاهدينو د بيعتونو لپاره يې لاره پرانيستله .

له نن نه تقريباً دوې اونۍ وړاندې ، د جولای په ۳۰مه نيټه د طالبانو رهبري شورا د خپل مشر وفات رسماً تائيد کړ ، او يوه ورځ وروسته يې ملا اخترمحمد منصور د خپل نوى زعيم په حيث وټاکه . له دې اعلان سره سم د طالبانو خينو کسانو له نوي زعامت سره مخالفت څرګند کړ ، له يوې غلي غوندې وروسته يې په غربي رسنيو کې خپل مخالفت او ملاحظات اعلان کړل . دوى استدلال کاوه چې:

- په انتخاب کې له بيړې نه کار اخيستل شوى .

- دويم دا چې د دوى نظر نه دى پوښتل شوى .

- درېيم دا چې د انتخاب پرمهال اکثريت نه ، بلکې اقليت حاضر و .

نو د دوى په وينا ، پکار دا ده چې يوځل بيا يوه سرتاسري غونډه را وبلله شي او له سره نوى زعيم تعين شي .

دا چې د دوى اعتراضات څومره پرځای او وړاندي شوى حل يې څومره ممکن دى ؟ په لنډه توګه به يې يادونه وکړو :

۱ - لومړى ټکى چې دوى وايى په انتخاب کې عجله شوې ، علماء کرام وايى چې بايد له دې نه هم عاجل اقدام شوى واى ، خکه چې په اسلام کې دا يو دېر مهم اصل دى چې که يو امير ليږي کيږي او يا وفات کيږي ، نو د بل په انتصاب کې څومره چې ممکنه وي عاجل اقدام دي وشي خکه چې د مسلمانانو انتظامي او جهادي امورو ته د امير په نه شتون سره زيان رسيږي . همدا وجه وه چې د نبى کريم صلى الله له تدفين او تجهيز وړاندي صحابه کرام د امير په ټاکلو مصروف شول .

دا ښه مسئله ده چې اميرالمؤمنين پخوا وفات شوى او خای ناستى يې ناوخته ټاکل

کیږي ، خکه چې دا کار هم د شرعی علماء کرامو د فتوا له مخي شوی . دا جدا بحث ته اړتیا لري . چې اسرار او حکمتونه یې را وسپړل شي .

۲ - دویمه خبره چې وایی د دوی نظر نه دی پوښتل شوی ، زما د مالوماتو له مخي حتی الوسع کوشش شوی چې د رهبري شوری ټول غړي ، او ورسره علماء کرام او نور اهل الرأی خلک راوغوښتل شي . تردې حده دا کار شوی ، ولی خینی اشخاص چې یا په بل خای کې وو او یا شرایط ورته مساعد نه وو ، پر وخت د رسیدګي امکانات یې کم وو ، هغوی پاتي شوي دي . او هغه دپر لږ وو .

۳ - درېیم اعتراض چې وایی اکثریت نه ، بلکي اقلیت حاضر و . زه فکر کوم چې خبره بالعکس ده. دا خکه چې که مونږ دواړه لوري په نومونو سره یاد کړو نو واقعاً چې د حاضرو اهل الرأی خلکو شمېر تر سلګونو ور اوړي او د غیرحاضرو وګړو شمېر لسګونو ته هم نه رسیږي په تیره بیا هغه خلک چې د شورا غړیتوب یې درلود او په جهادي چارو کې یې فعال رول درلود ؛ هغوی خو بیخي د ګوتو په شمېر وو .

تر دې بله مهمه خبره دا ده چې که فرضاً بیا هم د دوی اعتراض پر خای وګڼو چې ګویا د اکثریت رایه پوښتل شوي نه ده ، باید ټول مجاهدین او ولس وپوښتل شي ؛ نو په دې سختو ، ضیقو او بوختو شرایطو کې خو یې د راغونډیدلو بل هیڅ صورت ممکن نه ښکاري ، پرته له دې چې د ریفرینډم یا ټول پوښتني په بنه له هغوی نه پوښتنه وشي . چې نوی ټاکل شوی زعامت تصدیقوي او که یې ردوي ؟

نو بیا هم دغه کار په دې مهارت او صادقانه ډول په آزاد شکل ترسره شو ، د ټولو مجاهدینو نظر وغوښتل شو او هغوی ټولو یو په بل پسی نوی امیر تائید او بیعت یې ورسره وکړ ، د ۳٤ ولایتونو والیانو ،او د هغوی ۳٤ نائبینو ، د ۳٤ ولایتونو د ملکي او نظامي کمیسونونو مسئولینو ، ۳۵۰ ولسوالانو ، د په لسګونونظامي محاذونو قومندانانو او د دسلګونو لویو او وړو دلګی مشرانو اوګڼ شمیر مخورو قومي او جهادي کورنیو ، د پوهنتونونو او مکاتبو د محصلینو شوراګانو ، د دیني مدارسو په زرګونو زده کوونکو او د هغوی استاذانو علماء کرامو ، او نورو عامو ولسي خلکو نوی امیر تائید کړ او بیعت یې ورسره اعلان کړ . چې دا ټول مسئولین او اهل الرأی خلک دي ، هر یو تر شا په سلګونو او لسګونو وګړي پیروان لري ، او دا چا په زور بیعت ته اړ کړي هم نه دي . خو بیا یې هم په خپله خوښه تائید او بیعت کړیدی .

زه فکر کوم چې د اعتراض کوونکو دغه اعتراض ته نور خای پاتی نه دی ، او دا مسئله له هغه نه چې دوی یې حل کول غواړي ؛ تر هغه هم په دپر ښه انداز حل شوي ده . که بیا هم خپل اعتراض ته دوام ورکوي ، نو هرو مرو به خلک د دوی پر نیټونو شکمن شي . چې هسې نه د دوی د مخالفت انګیزه خو به قدرت غوښتنه ، یا قومي تربګنې او یا هم د پردیو د استخباراتي کړیو غوښتنې نه وي ؟! او امید لرم چې اعتراض یې د

اصلاح په نيت وي ، نه د بد نيتي پربنسټ . خکه چې پر بدنيتي بنا اعتراض بيا حل نلري ، پرته له رسوايی او ناکامي .

بله مهمه خبره دا ده چې د اميرالمؤمنين رحمه الله کورنۍ او د اميرالمؤمنين د خپلو نژدې ملګرو لکه د سياسي دفتر مشر طيب آغاصيب ، موقف هم تراوسه اعتراضيه بڼه لري او بې طرفي يې غوره کړي ده . زما د مالوماتو پر آساس دغه ټکي ته رهبري شورا د علماء کرامو په مرسته په ښه جديت سره توجه کړي، ولې چې د اميرالمؤمنين د کورنۍ اعتراض مجاهدينو ته هم د تشويش سبب کيږي ، خکه چې اميرالمؤمنين ، د هغه زوی او د هغه کورنۍ د ولس او مجاهدينو په زړونو کې ډېر ستر خای لري ، په خوريدلو يې ټول مجاهدين خوريږي او په ناراضه کيدلو يې د مجاهدينو زړونه ماتيږي . دا راز د هغه نژدې ملګري چې د نظام لپاره يې په سختو شرايطو کې قابل تحسين خدمتونه ترسره کړي ؛ د هيريدلو نه دي . نو په همدې آساس زما چې څومره مالومات دي ؛ نوی زعامت او رهبري شوری د دې مسئلې د حل لپاره ګرنۍ هلي خلي کوي ترڅو قناعت بخشه شرعي لاره ورته ولټوي او د هغوی رضايت ترلاسه کړي .

ضروري يادونه :

د پورته ليکنې مطلب هيڅکله دا نه دی چې ګويا نوي زعامت او يا د هغه ټاکونکو مشرانو، نه به هيڅ ډول تيروتنه صادره شوي نه وي ، او نه خپله دوی خانونه معصوم ګڼي ، خکه چې الله تعالی فرمايی :

فَلَا تُزَكُّوا أَنفُسَكُمْ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقَىٰ:٣٢] [النجم] .

هغوی هم انسانان دي ، اشتباهات به خينې صادر شوي وي ، کيدای شی خينې کارونو کې يې ناسمې پريکړې کړي وي . خو دا په دې مانا نه ده چې هغوی به پخپلو کارونو کې تجديد نظر او مشوره نه کوي ، او نورو ته به د داسي مخالفت زمينه سازي کوي چې خدای مکره د جهادي صف د توټه کيدو لامل شي . خو تراوسه چې يې کوم رول لوبولی ، په هغه سره يې واقعاً د ښه سياسي بصيرت څرګندونه کړي ده . او په ډېر حساس پراؤ کې يې د لويې ستونزې مخه نيولې ده . د جهادي صف د يو والي هڅه يې په اخلاص کړي . پکار ده چې مورِ او تاسو ټول مسلمانان د هغوی او د نوي زعيم پر نيت او کړنو تر هغو شکمن نشو ، ترڅو مو چې ناسم او غير شرعي کار ترسترګو شوی نه وي . کنه خدای مکړه د خدای له لوري به د ستر عذاب مستحق شوي يو.

له هغوی (مشرانو او نوي زعيم) نه مي يوخل بيا هيله دا ده چې د نيک مصلحت او د نظام د عليا مصالحو د تحفظ په خاطر له هردول شرعي او معقول تنازل څخه خان ونه سپموي ، ترڅو ډېری نارضايتونه په آسانۍ سره حل کړای شي او د دښمنانو هيلې نيمګړي پاتې شي .

و الی الله المشتکی وبه المستعان

حاجي شريف اصولي لغا

بيعت نصاب

او دامیرالمؤمنین دوفات خبر پټ ساتل!

دیوه امیر او مشر دوفات خبر د حکمت او مصلحت په بناء دشریعت په رنا کې کله ضرور او کله احسن وي ،وګورئ کـه الله تعالی دحضرت سلیمان علیه السلام دمرینې خبر پټ نوی ساتلی، نو جناتو یا پیریانو دبیت المقدس تعمیرسرته نه وی رسولی ، کله چې تعمیرسرته ورسید،نو سلیمان علیه سلام چې په کومه امسا (عصا) تکیه کړي وه، د هغې بیخ وینو وخور،او حضرت سلیمان علیه السلام راو لوید، جناتو وویل ای کاش چې مخکې خبروای ، لدې تکلیف څخه به خلاص وی، تفاسیرو کـه دا هر څه شته.

محترم ملا اختر محمد منصورصاحب حفظه الله که دمرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله وفات پټ وساته، دحالاتو تقاضا هم داسې ایجابوله او جهادي مصلحت هم داسې و، لکه داشغالګرو دوتلو بهیر، دمنصب طلبو او قومي تعصب پالونکیو لخوا په جهادي لیکو کې نفاق اچول او داسې نور.....

دامیرالمومنین ملامحمدعمر مجاهد رح جهادي صف ته چې دده اودده دنایب اوولی العهدمنصورصاحب اومنظمو ارګانونو اوفداکارانو په قیمتي سعي اوقربانیودفتحې درشل ته قریب شوی وو،شاید همدا یې دراز ساتنې اهمیت وي ، پدې کې دا فلسفه نغښتل شوي اوداسې ا سرار پکې مرموز وو،چې دتیرو جهادي تنظیمونو غوندې (خدای ج مکره) دجهاد لیکو کې اختلاف پیدا نشي، ترڅو دجهاد ثمره له ضایع کیدو نه بچ شي او سنجول شوي حکمت به بنایې محترم منصور صیب او دڅنګ ملګرې یې همدې ته هڅولي وي.

دبناغلي منصور صیب دا کار به ضرور دشیوخواوعلماوو څخه په استفتاء او مشوره شوی وي ،اودابه داسې یو اجتهاد وي ،چې الله جل جلاله به پکې خیرکثیر اچولی وي ،امید دی چې الله ج ددې صف څخه د مرورو ورونو شرح الصدراوهدایت نصیب کړي ، ترڅو دداعشیانو غوندې ذلیله نشي او انزوا کې پاتې نشي .

ماته دمحترم منصور صاحب تاکنه دحضرت عمرر فاروق رض دتاکنې غوندې بریښي ، چې دا ابوبکر صدیق رض خپل ولی العهد وټاکه، که څه هم یوتعدادصحابه کرام رض وروسته شول ، خوالله ج یې شرح الصدروکړه او بیعت یې ورسره وکړ، نورو ټولواطرافوته دبیعت پیغامونه ورسیدل ، دیروخت پورې یوتعداد صحابه رض چې په جنګ کې مصروف وو، نه داول خلیفه له مرک نه خبروو اونه په خلیفه ثاني خبروو، کله چې دتبادلي لپاره بل قومندان جنګ ته ورغلی او دوئ خبرشوي ،هیڅ کوم خلاف یې ندی کړی، چې زه یې ولي نه یم خبرکړی، دصف وحدت صحابه وو رض ته له هرڅه نه دیر قیمتي وو،منصورصاحب سره مکمل واک و،په نیابت کې یې هم دامارت چارې ښه سنبالولې او خدمات یې قابل تحسین دي ،دخینو خلکو داخبره چې ملامحمدعمرمجاهد رح یې بل چاسره رابطې اوتعلق ته نه پریښوده، کذب محض اودامیرالمومنین له غیرت سره خلاف ده، بلکې دامیرالمومنین حسن قیادت و،چې په منصورصاحب باندې یې حسن ظن اواعتمادو،نو څکه یې خپل صف ته حسن قیادت برابرکړی و،داسې لکه نبی علیه السلام لمانځه ته حضرت ابوبکررض مخکې کړ ،نه علی رض !! علماووهمدادلیل دحضرت ابوبکر صدیق رض په خلافت باندې نیولی دی ،که چیرته دمحترم منصور صیب نیابت کې کوم دول شرعی نقصان وی، نو بیا ددومره فتوحاتو تسلسل نه پیلیده او به دومره لاسته راوړنې وی ،قاعده داده چې نایب ته دمنوب حکم وي ،نو بیا د (اهل الحل والعقد) بیعت بغیردچادتیت وپرک کیدو نه وکړ اواکثر مخلص مجاهدین ورباندې راضي دي، نو دغه د رضابیعت دی)(فقهه اسلامیه)

دامام اوامیرپه تعیین او تاکنه کې داهل شوری دټولو غړواتفاق اوحضورشرط ندی .

داحتمي نده ،چې دیوه زعیم په تاکنه او انتخاب کې دې داهل الحل والعقد دشوری ټول غړي دده په زعامت خوښ وي ،که ګوندې ټول پرې راضي نه وي، نو بیا به ددې زعیم زعامت نه صحیح کیږي ،ښه خبره همداسې ده، چې ټول پرې راضي شي ،خو که ټول پرې راضي نه شي، نو بیا یې هم امامت صحیح دی او کوم دول شرعي قباحت نه لري، لکه همدا مسله (دشرح عقاید په شرح النبراس) کې داسې لیکل شوي :

لا حاجة فی البیعة الی الا جماع بل یکفی بیعة بعض اهل الحل والعقد وذلک لان عمرعقد الاما مة لابی بکررضی الله تعالی عنهما وکذ لک عبدالرحمن بن عوف لعثمان رضی الله تعالی عنهما ؛ نبراس حاشیه شرح العقا ئد ص ۵۹۳).

ژباړه : په بیعت کې ددې حاجت او ضرورت نشته چې داهل الحل والعقد دشورى ټول غړي دې پکې نوې امیر ته بیعت ورکړي ، بلکې د اهل الحل والعقد دشورى دځینو اعضاوو بیعت هم بسنه او کفایت کوي، لکه حضرت عمررضی الله تعالى عنه چې دحضرت ابو بکررضی الله تعالى عنه دتعیین دامامت لپاره داسې وکړل اوهم داسې عبدالرحمن بن عوف دعثمان رضی الله تعالى عنه دامامت لپاره وکړل.

لاَ يُشْتَرَطُ اتِّفَاقُ أَهْلِ الْحَلِ وَالْعَقْدِ مِنْ سَائِرِ الْبِلاَدِ، لِتَعَذُّرِ ذَلِكَ وَمَا فِيهِ مِنَ الْمَشَقَّةِ، الموسوعة الفقهية الكويتية ج ٦) ص ٢٢١)و الفتاوى الفقهية الكبرى ج ١٠) ص ٨٣ (ژباړه : د اهل الحل والعقددشورى دټولو غړو اتفاق شرط ندى ، له ټولو ښارو اوسیمو دامتعذره اوسخته ده چې ټوله شورى دې سره جمع شي په دې کې مشقت اوتکلیف دى!

اوپه (السیاسة الشرعیة) لیکي چې : وإن أقام بعض أهل الحل والعقد إمامًا سقط وجوب نصب الإمام عن الباقين, وصار من أقاموه إمامًا, ويلزمهم إظهار ذلك بالمكاتبة والمراسلة؛ لئلا يتشاغل غيرهم بإمام غيره وقد وقعت الكفاية, ولئلا يؤدي ذلك إلى الفتنة, فعدم مبايعة سائر أفراد الأمة لا يؤثر في انعقاد الإمام؛ لأن العقد يتم بمجرد مبايعة أهل الحل والعقد, ولا يكون العقد صحيحًا إذا لم يبايع الإمام أهل الحل والعقد السياسة الشرعية ج ١)ص ٥٢٨ (

کـه چیـرى د اهـل الحـل والعقددشـورى ځینوغړو امام وټاکه نو له نوروځخه دامام نصب سا قط شو، اوهغه څوک شرعي امام شو،چې دې نورو ټاکلى ، او پردوئ لازم دي ، چې خلک د مرا سلاتو او لیکونوپه ذریعه دامام دټاکنې څخه خبر کړي دا ددې لپاره چې دا نور له بیعته پاتي خلک دبل امام په ټاکنه خانونه مصروف نکړي ،داپداسې حال کې ده ،چې دامام خلاډکه شوي ده ،او بل ددې لپاره چې دکومې فتنې سبب نشي ،نو دخینو افرادو له بیعت څخه وروسته کیدل، دامام انعقاد نه اغیزمن کوي ، داخکه چې مجرد مبایعت داهل الحل والعقد عقد بشپړوي اوکه چیرته ورسره اهل الحل والعقدغړي بیعت ونکړي، نو دا عقد بیا نه صحیح کیږي .

قَالَ الْإِمَامُ أَبُو الْمَعَالِي: مَنِ انْعَقَدَتْ لَهُ الْإِمَامَةُ بِعَقْدِ وَاحِدٍ فَقَدْ لَزِمَتْ، وَلَا يَجُوزُ خَلْعُهُ مِنْ غَيْرِ حَدَثٍ وَتَغَيُّرِ أَمْرٍ، قَالَ: وَهَذَا مُجْمَعٌ عَلَيْهِ. الجامع لأحكام القرآن - تفسير القرطبي ج ١) ص ٢٦٩(امام ابو المعالي ویلي دي ،کـه داهل الحل والعقد دشورى یوه غړي هم دامام په حیث له چا سره بیعت وکړ، نوددده امامت لازم شواومخالفت یې دتغیر دامر نه په غیر ندى روا،او همدې باندې اجماع منعقد ده.

حرکي تیندک

محمد جمال خطیب

د اسلامي نړۍ مشهور داعي استاد فتحي یکّن په اسلامي حرکتونو کې د هغه خلکو په اړه یوه اصطلاح رواج کړې چې نیمه لار کې تعهد ماتوي، لار بدلوي، په کور کینې یا هم د ځینو دلایلو پر بنسټ شقاق وانشعاب ته لمن وهي. دی ورته "المتساقطون على الطريق" وایي. معنی په لار پرېوتي خلک.

دا اصطلاح ښاغلي یکّن صاحب ته منسوبه ده. له ده مخکې چا دا اصطلاح نه ده کارولې. دی په مذکوره عنوان یو کتاب هم لري، چې د همدې خلکو په اړه یې تفصیلي بحث کړی.

نومورۍ عالم چې د لیکنې په تفصیل کې د اجتماع ساتلو تلقین کوي، ځای ځای وایي هغه خلک چې لار بدلوي، انشعاب پیدا کوي، دښمن ته دلایل په ګوتو ورکوي، باید د خپل جماعت اصلاح ته همداسې بدې ووهي. دا ربښتیا هم ده. تر هغې چې ډله مفسده شوې نه وي، فساد یې قابلِ اصلاح دی. که خبره افساد ته ورسیده، نو بیا یې په اړه الله جل جلاله فرمایي : إِنَّ اللَّهَ لَا يُصْلِحُ عَمَلَ الْمُفْسِدِينَ.

دلته یوه خبره زه خپله یادوم، چې زمورِ لیکوالو د استاد یکّن اصلاح "تساقط" په "پرېوتو" ژباړلې، دا د دې لفظ خپله معنی ده. زه وایم ضرور نه ده ،چې دا لفظ کت مت وژباړل شي، ځکه دا اصطلاح ده، متني لفظ نه دی چې ان مفهومي معنی یې خطا خیژي.

په همدې علت ما په "تیندک" ژباړلی. ښاغلی یکّن صاحب چې د تساقط ډولونه روښانوي، ښکاري چې ځینې وخت دا تحریکي انسان په ځان نه پوهیږي او مخ په ښکته ځي او په "تیندک" کې له "پرېوتو" دا معاني ښه جوتیږي. په هر صورت دا یو نظر دی، اختلاف ورسره کېدای شي.

د حرکتي تیندک عوامل او ډولونه

ځینې صورتونه دي چې د حرکتي تیندک عوامل او ډولونه روښانوي. مثلا لومړی خبره دا ده چې ځینې وخت د تیندک سبب داخلي وي، ځینې وخت خارجي. داخلي دا معنی چې په حرکت کې دننه چا سره یو ډول اختلاف پیدا شي. یا په دلایلو بناء وي یا حقد او حسد پسې اخیستی وي. کله داسې هم وشي چې د فهم او برداشت له کبله څه تېروتنه وشي. کله بیا داسې هم وشي چې واقعا یوه ستونزه او شرعي اعتراض وي، خو دا اعتراض سره له ضخامت او عمقه د لارې د بدلولو یا پرېښوولو سبب کېدای نه شي.

کله د حرکت دننه د لومړیتوبونو او مصالحو په سر څه ستونزه پیښیږي او دا د دې علت شي چې یو حرکتي انسان تیندک وخوري او مخ په خور شي. په هر صورت تولې هغه عوامل چې

شرعا د بیعت د ماتولو قوت نه لري او انسان پې پر بنسټ لار بدلوي "تساقط" یا "حرکتي تینک" بلل کیږي.

خارجي سبب دا معنی چې یو څوک د بل حرکت لور ته د مادي اسبابو له مخې ورشي. یا د حریف حرکت د نیوکو او ګوتځنډنو تاثیر پرې وشي، لار بدله کړي یا په کور کښې. په خارجي اسبابو کې د خپل کور فشار هم شامل دی. مثلا پلار، مشر ورور، کاکا، ماما نه غواړي یو انسان په دغه ډول متحرک واوسي. کله چې دی دې کورنۍ فشار ته غاړه کښدي، د تینډکمارانو ډلې ته شاملیږي.

همدا ډول هغه حکومتي فشار چې د یوه حرکت د مخنیوي لپاره یې کاروي، همدې کټګورۍ کې شامل دی. یو متعهد انسان چې د استخباراتو او امنیتي کړیو له وېرې یا د هغوی د تطمیع له کبله لار بدله کړي یا په کور کیني، همدا حکم پرې صادقیږي.

په خارجي اسبابو کې دا هم شامل دي چې حریف حرکت یو متعهد انسان په مرګ و درد ګواښي او په همدې علت لار او کار پرېږدي، تینډک شمېرل کیږي.

دلته مهمه خبره دا ده چې یو متعهد انسان په کومو دلایلو یو حرکت انتخابوي. که چېرته یو حرکت په شرعي دلایلو بناء وي او په خپله ساحه نعم البدل نه لري، دغسې حرکت پرېښوول، ماتول او کمزورۍ کول تینډک ګڼل کیږي.

کله داسې وي چې یو انسان یو حرکت سره تعهد لري، خو دا حرکت په بشپړه توګه یا د بل حرکت په تناسب هغومره شرعي نه وي، ګویا د ده د انتخاب کړي حرکت ښه امثل بدیل پیدا کیږي، دغه صورت کې که دا انسان د شرعي دلایلو پر بنسټ امثل حرکت ته څې، دا تینډک نه دی بلکې د غوره او لا هسک لور ته پرواز دی.

د غوره او امثل حرکت معنی دا نه ده چې یو انسان ځان په متاکو دلایلو قانع کړي او خپل تینډک ته د غوره حرکت د انتخاب نوم ورکوي بلکې معنی دا ده چې د ده انتخاب په شرعي دلایلو بناء وي او هر سلیم العقل انسان ته د منلو وړ وي.

موږ هم له بده مرغه داسې تینډکماران ولیدل چې د یوې دعوی پر بنسټ یې خپل حرکت نیمګړی ښکاره کړ، حال دا چې خپله د یوه خام حرکت لور ته ورغلل او بېرته په صفر نقطه ودرېدل. یو دا خبره ده چې څوک د یوې دعوی لپاره د کار تظاهر کوي. یوه دا ده چې دغه دعوی په واقع کې ځای لري که نه؟

هغه اسباب، امکانات او مقدماتي زمینه سازي لټول شوې چې د یو کار لپاره ضرور وي او هغه هم دومره ثقیل کار چې د نړۍ هر زورور یې په خپلو ټولو امکاناتو مخه نیسي؟ او که نه دا پرمختګ یوازې په دې راځي چې دا حرکت پرېږده او هغه بل انتخاب کړه؟

له بده مرغه چې دغه خلک د حرکتي تینډک ښکار شول او په لوی لاس یې د متعهدو ملګرو په ذهن کې تشویش ته لار ورکړه.

امیرالمؤمنین...

د عظمتونو وارث!

د امیرالمؤمنین ملامحمدعمر مجاهد په اړه ډېرې او په زړه پورې خبرې کېدای شي. هغه د داسې تاریخي پراو یو قهرمان وخوت چې خلک سا وتیګا د یوې پنا په لټه زغاستي وو. هغه داسلامي امت او په ځانګړي ډول افغانستان دتاریخ نه بندبدونکی، نه بدلېدونکی او ویرنده باب شو.

لیکنې شروع دي، داسې ناویلي شیان رابرسېره کېږي چې حیران به دې کړي. هر لیکوال کوښښ کوي داسې څه ولیکي چې نورو نه وي لیکلي. که لیکلي یې هم وي کوښښ کوي چې اسلوب وربدل کړي. دا مهال زما ذهن ته د امیرالمؤمنین په اړه دوه خبرې حاضرې دي او ما ته د هغه له صفاتو دا دوه هغه ډېر مهم ښکاري.

د جهاد د ټولې ساتونکی

په دې کې د هیڅا هم اختلاف نه شته چې افغانانو ته بلکې ټولو مسلمانانو ته د افغانانو په اړه د جهاد د نتایجو ګټل مهم دي. موږ ولیدل کله چې د روسانو له ماتې وروسته ځینې رهبران خپلو کې سره ونښتل د نړۍ لوی لوی علماء، دعات او خیرخواهان د دوی د روغې جوړې لپاره لاس په کار شول. ځینې علماء او مخور شخصیتونه په دې سوله کې سپک کړای شول، مګر هغوی هیڅ باک ونه ګانه او خپل کار یې مخکې یوړ. د دوی دا کار همدا معنی لري چې مسلمانانو ته زموږ د یووالي او جهاد خبره تر هر څه مهمه ده.

له بده مرغه چې زموږ سرکښانو د جهاد اهداف په نظر کې ونه ساتل او په هغه لار لاړل چې دښمن انتخاب کړې وه. د روسانو د وتلو پر مهال یو عجیب اتحاد رامنځته شو. نړۍ که څومره هم سره مخالفه شي بیا هم دومره په کې د روغې ځای پاتې وي چې د مسلمانانو پر ضد په کې یو ځای لاس په کار شي.

موږ ته معلومه ده او نړۍ کې هم مشهوره ده چې امریکا د روسانو پر ضد د افغانانو ځنګ

ته ودربده او له هیڅ مرستې او ملاتړ یې درېغ ونه کړ. کله چې خبره اسلامي نظام ته راغله او مجاهدین خپلو کې په نظام غږېدل د کفر دښمني خپلو کې په یو ناڅاپي اتحاد بدله شوه. دا دواړه جهته په دې سره سلا شول چې افغانستان کې به د اسلامي نظام د قیام مخه نیسي.

کله چې روسان مات شول غربي مفکرینو وویل : مهالنی دښمن مات او ازلي دښمن سوبمن شو. د روس او امریکا مخالفت وخت پورې ترلی دی او اسلام سره د دوی مخالفت ازلي او تر پایه دی. اسلامي نظام نه روسان او امریکا یو ډول ځان ساتي ځکه خو یې اوږه په اوږه د اسلامي نظام مخالفت ته راودانګل.

د دې دواړو لویو جهتونو خواري وه چې افغانستان کې جهادي ډلې په داسې جګړې کې ښکېل شوې چې د جهاد عظمت یې د خلکو سترګو کې وړې کړ. جهاد ته کمونستانو او نېشنلستانو د فساد خطاب وکړ. عام ذهنیت هم له دوی متاثر شو. اسلامي حلقه د یوه ناکامې ډلې په نوم وپېژندل شوه. د خلکو ذهنیت دا و چې نړۍ کې ټولې فلسفې او ګروهې ماتې شوې وار د اسلام دی او نړۍ به ژغوري.

کله چې تنظیمونه خپلو کې ښکېل شول هغه د اسلامي نظام وار یې داسې تېراوه چې خلکو په هر نظام شکر وویست. کله چې د جهاد دعظمت وارث توره پورته کړه او میدان ته راووت..د هیلو غوتی ګل شوې..ارمانونو غځونې وکړې..هغه روحونو ارزښت پیدا کړ چې د اسلام د حاکمیت په هدف له نړۍ کوچېدلي وو..هغو سرونو قیمت وګاته چې د شریعت د نفاذ په کوښښ ورغږېدل..د هغو هډونو قدرداني وشوه چې د محمدي رنا د خپرېدو په خاطر ویلي شوي وو.

اسلامي نظام یې حاکم کړ. نړۍ ته یې وښودله چې موږ د دې نظام لپاره سر ورکړی و او نړۍ ته یې وښودله چې موږ څه غواړو هغه کوو زموږ مخه دې څوک نه نیسي،ځکه چې څوک یې نه شي نیولای.

هو...امیرالمؤمنین د جهاد د عظمت وارث و....

د افغاني تاریخ تسلسل

د داخلي جګړو له کبله افغانان داسې پراو ته رسېدلي ول چې په تاریخي لحاظ ترې د یوې سوبې طمع هم نه شوه کېدای. دښمن داسې فکر وکړ چې دا خلک ګوندې پراګنده شول. دا ګومان ډېر بې ځایه هم نه و ځکه چې افغانانو هغه وخت تاریخ ته څه ورکړي چې کله یې لاسونه سره ورکړي وي. اتفاق واتحاد چې نه وي بیا خو تاریخ د زرداد خپلو کیسې لیکي..هغه

داستانونه خوندي کوي چې دکمزوري زړه څښتن يې لوستلای هم نه شي.

تر ټولو ستر ګوابن چې ټولې نړۍ پرې تبصره کوله او دښمنه نړۍ ورته لا سترګې په لار وه هغه د افغانستان د تجزيې خبره وه. څه خلک خو لا دننه په کور هم دې ته خوشاله ول چې په واړه مساحت کې خو د ده په څېر سړی هم وزير کېدای شي، مګر داسې سړي توره په لاس ميدان ته راودانګل چې هر شوم هدف يې پوچ کړ..هره بده حيله يې په شا وټمبوله او هر بد نظر يې له ښخه وکاړه.

سړي د ابدالي جغرافيې داسې ساتنه وکړه چې تجزيه ماران يې تر کولاب واستنبول و ماسکو ورسول. د افغانستان د نيمولو هره دسيسه يې له منځه يوړه او قومي ټرون يې د عقيدې په داسې تار سره وتاړه چې نه شلېدونکی او سپښېدونکی دی.

که دا خبره تر پرونه پټه وه نو دا نن وګورئ چې شمال کې مجاهدين د اسلامي امارت په اطاعت کې په کومه رشته سره ټرلي؟ تر پرونه چې د تجزيې په دليل د اشغال د دوام خبرې کېدلې څنګه به يې تکراروي چې د اسلامي امارت مجاهدين د هېواد په لر وبر کې سره په يوه مزي او موحد اطاعت ټرلي دي.

هو..اميرالمؤمنين د افغاني تاريخ د عظمت وارث و. نه يې نړېدو ته پرېښود او نه يې خرابېدو ته چې ځينو بې ارزښته خلکو د دې مسلمان ملت د اسلامي وروروليې احساس ځپل پيل کړی و. اميرالمؤمنين په کور دننه هم دا احساس ژوندی وساته او ټولې ته نړۍ ته يې هم د دې عالي احساس مثال وړاندې کړ.

هو..اميرالمؤمنين د افغاني تاريخ د عظمت وارث و...

عمر ثالث په خپو جونګړو کې!

امین وردګ

د هغه ماشوم د ژوند لنډ حالونه درته لیکم : چې په ۱۳۳۹ هجری لمریز کال کې یې د کندهار ولایت د خاکړېز ولسوالۍ د چاه همت په کلی کې دې غمجنې دنیاګۍ ته سترګې لوڅې کړې.

وړوکی ((عمر)) لا د ماشومتوب تانده دوره نه وه تمامه کړې (د پنځو کالونو په عمر کې ؤ) چې د خواږه پلار د هجران څاپېړه یې پرمخ و خوړله ، او د یتیمانو د کلی مېلمه شو ؛ دا مهال یې د خاکړېز خړو کورنو په وړوکی زړه حملې کولې ، او د پلار یادونو به ځوروله ، نو له دې کلی هم کډه شو ، او د ډنډ ولسوالۍ ته یې پناه یوړه ، خو هلته یې هم د رزق انتظام تمام شوی ؤ ؛ بیا یې له خپل محترم کاکا (مولوی جمعه) سره د ارزګان په ولایت کې خپل پردېس ژوند ته دوام ورکړ ، او له هغه نه یې دیني زده کړې پیل کړې ؛ کله چې نومورې د ۱۸ کلونو عمر پوره کولو : نو دیني درسونه یې هم د حدیثو دورو ته نېږدې کړل ، خو دامهال په ګران وطن افغانستان باندې کمونستي اجیرانو (د شوری اتحاد په ملاتړ) نظامي یرغل وکړ ، او افغان اسلامپالو مجاهدینو یې د غاښ ماتولو د پاره ملاوې و تړلې ، نو پدې سربښندوکو زلمیو کې (عمر ابن مولوی غلام نبی ، ابن مولوی محمدرسول ، ابن مولوی بازمحمد) هم برخه واخیسته ، خو له څه وخت مبارزې وروسته له هغه ځایه هم د خپل پلارنی ټاټوبی کندهار په لوری روان شو ، د پنجوایي ، میوند ، او ژېړی په ولسوالیو کې یې د سرو لښګرو ، او د هغوی د افغاني مزدورانو په وراندې (د حرکت انقلاب اسلامی جهادی تنظیم تر قیادت لاندې) مخامخ پر دشمن اسدی حملې کولې ، او همدلته د یوه وتلی زړور قومندان په توګه و پېژندل شو ؛ نومورې شخصیت د شوروی اشغالګرو پر ضد چګړو کې ځلور ځله ټپی شوی ، چې په آخری ځل یې خپله ښی سترګه هم د الله په لاره کې نثار کړه.

نو کله چې مجاهدین واک ته ورسیدل ، او کمونیستی نظام رنګ شو ؛ نو (محمد عمر) بېرته خپلې دیني زده کړې ته د سنګ حصار په سیمه

کې دوام ورکړ ؛ اما کله یې چې خپلمنځی جګړې لیدلې ، او پدې بې هدفه جګړو کې یې د بیت المال د شتمنیو چور ، او چپاول کتلو ، د وحشت اوج ته یې په سترګو کتل ؛ نو د صبر ، او زغم کاسه یې ډکه شوه ، د زده کړې پر ځای یې د وحشت پر مقابل کې د حق پلوې مبارزه ته ترجح ورکړه ، او د دینی علماؤ له فتوا ، او ملاتړ سره سم یې د خپلسرو یاغی قومندانانو پر ضد یو ځلې بیا وسلې ته لاس کړ ، او له کندهار ولایت نه یې جګړه پیل کړه ؛ دلته د ده خوځښت پر حق ، او د اسلامی تحریک په نوم و نومول شو ، ۱۵۰۰ دینی علماؤ د یوې شورا په ترخ کې ده ته د امیرالمؤمنین لقب ورکړ.

د ده شعار د اسلامی قانون حاکمیت ؤ ، د جګړې په اصولو کې یې جګړه مارو ته عمومی عفوه ، او د توبې توصیه کوله ؛ د جګړې پر مهال به یې د مخالف لوری له محاصره شوو جګړه مارانو څخه وسلې اخیستلې ، او هغوی به یې ژوندی خوشی کول ، آن تر دې چې د ۱۳۷۵ ه ل کال د میزان پر شپږمه یې د افغانستان پلازمېنه کابل تر خپلې سلطې لاندې راووست ؛ خو دا هغه کابل نه وو چې له جهادی ډلو مخکې لیدل کېده ؛ بلکې د کنډوالو یوه ټولګه وه.

ټول افغانستان (پرته له ځینو محدودو سیمو) د اسلامی امارت تر شرعی قوانینو لاندې راغی ؛ خو متأسفانه چې د ۱۵ /۱۳۷۹/٦/ نېټه دا ((اسلامی نظام)) د ناټو د غړو هېوادونه (چې شمېره یې ((٤٤)) مملکتونو ته رسیږی (، ځینو نورو غرب پالو غوړه مالو مملکتونو ، او د افغان (غرب پلوو) ډلګیو له خوا را چپه شو ؛ پدې جګړو کې د اسلامی امارت پر ضد بعضې ممنوعه کېمیایي وسلې و کارول شوې ، ځینې مشران یې د افغانستان ، او پاکستان د پلورل شوو جاوسوسانو له لاسه د غربي متجاوزینو په لاس د ګونتانامو وحشی زندان ته یوړل شول ، او ځینې نور بیا په همدې خاوره کې د بګرام هغه زندان ته ولوېدل :چې واک یې پرته له خارجیانو د بل چا سره نه وو ، او افغان چارواکو هلته د ورتګ اجازه نه لرله.

لنډه دا چې د دوو کلونو په شاوخوا کې (خاکریزی اتل) بیا خپل مخلص ملګری سره راټول کړل ، او د غربی طاغوت په ضد یې غابښ ماتوونکې مجادله له سره پیل کړه ، داسې سبق یې ورکړ چې تر عمره به یې یاد ساتی.

دغه خاکریزی یتیم ماشوم ته الله پاک داسې ځانګړی صفتونه ورکړی وو : چې په ډېرو انسانانو کې نه لیدل کېدل!

۱= په سنګر کې به یې) R.P.G راکټ) په خپله فیر کولو.

۲= ډېر فقیر طبیعته ، خوش خولقه ، او ساده زړی وو.

۳= نهایت متقی ، او زړه سواندی شریف مزاجه وو.

۴= ځانته یې امتیاز ورکول عیب ګڼل.

۵= هرچا ته یې د لیدلو اجازه ورکوله (اما نېژدې ملګرو به یې د ده دا عمل د هغه شخصیت ته د خطرې رسولو لامل ګڼلو) چې په پای کې پدې

اسماعیل مولوي صیب د شهید لطیف رحمه الله د خولې څخه حکایت کوي، چې کله په آخري ځل باندې سنګر ته روانیده ، یوملګري ته یې ویلې و، چې که داخل زه ژوندی راواپس شوم او شهید نه شوم، نو بیا به زه منافق یم، بیا به ماسره ستړې مشي نکوئ !! همداسې وشول او دې خپل تعهد کې رښتونی شو.

صفات :

تیز او چالاکه، خوش طبعیته ، میلمه دوسته او د سخا غوندې دمړوئت له نور جالبو صفاتو درلودونکی و .

دشهید عبیدالله څخه (۵) اولاده پاتي دي، چې یو یې ځوان تاند مجاهدپریښی او دده نه ورپاتې چارې سنبالوي او څلور یې لورګانې دي .

روح یې شاد او خوشحاله اوسه !

ژباړه: دکتور نجیب الله صالح

د تاریخي هسپا نیا دغرناطي یو مسلمان شوي لیکوال او ادیب:

له مسلمانېدو وروسته مې ژوند وپیژانده!

اسپانوي نومیالی ادیب اوشاعر (امیلیو پاییتیروس مازان) دغرناطی اوسیدونکی چه دیو استاد په صفت په خپلو ادبي اوفرهنګي فعالیتونو بوخت دی داسلام تر قبلولو وروسته یې یوه ادبي مجله دنوروفرهنګي ملګروپه مرسته تاسیس کړه چی د(الحسمیة) په نوم یې و نومولـه او حسبیه په المغرب کی دهغه ښار ګوتي نوم دی چی اسپانیی سره ترلی دی، په سلګونو داستانونه، ناولونه اوشعري فعالیتونه لري چی اخیرنی ناول یې د (البرکة) په نوم له چاپه راوتلی چه ۲۰۰۵ م کال کی تالیف اود موءلف دنویو اسلامي نظریاتو څرګندوی دی نوموړی لیکوال دالمجتمع اسلامي مجلې ته داسلام قبلولو قصه داسې بیانوي :

پوښتنه : اسلام ته دې څنګه مخه کړه اواسباب یې څه وه ؟

ځواب : تقریباً لس کاله وړاندې زمایوه شاګرده انجلی چې دیوې هسپانوي مسلمانې کورنی سره یې تراودر لوده دهغې مور زمایه شان شاعره وه نو ددې انجلی په واسطه به موکله ناکله دخنې قضایاوپه هکله څه اشعار تبادله کول لکه په اسلام کی دښځې حالت، نوموړې یوه دقوی شخصیت اومنظم ژوند ځښتنه وه، خوځه موده وروسته دغه کورنی زماځخه بیدرکه شوه اوځوکاله وروسته چې ماخپل یوناول خپور کړ نوزماسره یې تلیفوني رابطه وشوه هغې له ماځخه داسلام دقبلولو غوښتنه وکړه او دهغې خبرې په مازیات تاثیروکړ اوپه دې لټه کې شوم الحمدالله چې اوس درې کاله کیږي مااسلام قبول کړی.

پوښتنه : پدې تحول سره دې په لومړي سرکی څه احساس کړه اودکورنی تعامل دې څنګه وه؟

ځواب : ماپه دې تحول سره دستر روحي اطمینان احساس وکړ دژوند هدف می وپیژنده ازادي می احساس کړه په لومړي سرکې زماخپلوانو اوملګرو دغه بدلون بدشاګوم وباله ،زه لږتنهاشوم اوزما خپله کورنی او زامن ټول مې خبر کړل خوهغوی لا اسلام نه دی قبول کړی زمامور،پلار اوخویندو دغه خبر یوناآشناقضیه وګڼله خو بیایې زمااسلام راوړل تاییدکړل.

پوښتنه :دیولیکوال ادیب اوشاعرپه حیث دغه تحول په تاځه اثر وکړ او ایا ستا په ادبي فعالیت یې څه تاثیر وکړ ؟

ځواب : هوزه همداوس په داسې يوناول ليکلو مصروف يم چې په اسپانيه کې د١٦ م قرن حوادث تمثيلوي اوستوري (کرکټران) يې هغه هسپانوی مسلمانان دي چې غرب ته له اريتيريا نه دخپل دين دحفاظت په خاطر راغلي دي ،تر څو هلته په زور سره عيسويان نه شي اوداهغه خلک دي ،چې له عيسويانو پټ يې هلته اسلامي ژوند کاوه. دشعرونو يوټولګه مې همداوس نشر کړې، چې دليلی اومجنون له قيصی نه الهام اخلي اويورنګ تصوف مزاجه حيا په کې پرته ده. همداراز يولړ نورې مقالې مې په هسپانوي اوبرازيلي مجلو او اخبارونوکې نشر- کړي چه د ادب اوتصوف ترمنځ تړاو په هکله ليکل شوي.

پوښتنه : ستاداخيري ناول عنوان برکت وه داپه څه معنی ؟

ځواب : دبرکت کلمه له يوه پلوه يوه ښکلې اودخير اومحبت نه ډکه کلمه ده ، چه الله تعلی خپلو بندګانو سره دهغې اظهارکوي او بل ماته ديوخاص سعادت اوخير زيری راکوي.

پوښتنه: ديو اديب په حيث ايااسلام ستاپه هغه ليد کی څه تغير راوست چې دې نړۍ نه يې لرې؟

ځواب : زمادژوند هدف اومبارزه دانسان لپاره ديوی ښې نړۍ جوړول وه، ما اوسني سرمايه دار نظام ته هروخت د رد اوشک په سترګه کتلي خوبل طرف ته زه ديوې ذهني تشې سره مخ وم، کوم ښه اوغوره نظام زماپه ذهن کی نه وه، سره ددې چې زماطبيعت نيک فالی دی خوزه دبدفالی ښکار وم، خواوس زماپه ليدکې پوره تغير راغی، زه او س دپخواپه څېر نه بلکی يومتوازن انسان يم، ماته دژوند تکليفونه هيڅ مشکل نه شي جوړولای ،دخپل ځان اوجهان په مقابل کې زه دنيک بختۍ احساس کوم زمانظربدل شو، زه اوس پخپله غوره کړې لاره اعتماد لرم، ځکه زه په الله ايمان لرم، زه اوس ديوې غوره نړۍ جوړول غواړم چه هلته محبت مينه او ورور ولي وي.

پوښتنه : تر اسلام راوړلووروسته تا عربي ژبې ته مخه کړه، داعربي څنګه ژبه ده ؟

ځواب :عربي ډيره ښکلې ژبه ده، اوتر اوسه يې خپل اصالت ساتلی، سره له دې چې په محاوره او روزمره استعمال کې يې زيات تغير راغلی ،خوددی سره هم زماپه وطن هسپانيه کې راته دقرنونو په موده کې د دوهمې ژبې حيثيت لري، بله داچې عربي يوه ژوندۍ اوتغير قبلونکې ژبه ده، ټول الفاظ اواصوات يې قواعد لري ،دکلمې په لړ تغير سره مختلفی معنی ګانی ورکوي ،حتی کله کله دکلمې په لړ تغير سره متضادې معناوې ورکوي، چې دايې په قوت دلا لت کوي.

پوښتنه : اسلام دی دکومو پوهانو اوکتابونو له نظره مطا لعه کړی؟

ځواب : مادير څه لوستي، طبعاً قران کريم مې په هسپانوي ژبه لوستی وه، دامام غزالي کتابونه او (الحکم) دابن عطاء الله تاليف، دشيخ عبدالقادر جيلاني رح کتابونه، دجلال الدين رومی رح اشعار ،ددې نه علاوه داسې کتابونه چې دمسلمانانو حالات اودعربي نړۍ مشکلات په ګوته کوي ،دسيرة النبی کتابونه اوداسې نور مطالعه کړيدي .

پوښتنه : داچې غربي پوهانو اوس اسلام ته مخه کړې دا پديده څنګه تعبيروئ؟

ځواب :غربي تمدن اوس دنابودۍ په لور مخه کړې، ددې سره چې غرب دتمدن ازادۍ اوعلمانيت مدعي دی، خوتر اوسه په داسې ادیانو هم عقیده لري ،چې په هغې کې له شرمه ډکو شیانو خدایان جوړ شوي اوله پو چو روحاني او خیالي نظریاتونه ډک دي، دغرب خیالي خدایان اوس مال ،مصرف ، اوقدرت دی، اوس غربیانو ته بازار پیداکول، عاجل خوراکونه، موسسې اودفترونه دیومقدس مومن به حیثیت لري، چې او س لا دمبارزې نور نوي میدانونه دشهرت طلبۍ ، کار او غیر انساني تولیدات ، تکنالوجي ، پلاستیکي جراحي (طب التجمیل) چه الهی خلقت کې تغیر راولي، خلاص شوی اوخلک پری اخته دي.

غربي ځوانان دمخدارت او اخلاقی انحرافاتو په سیند لاهو او دهلاکت په لور روان دي اوهغوی اوس دخپلو جنسي خواهشاتود پوره کولو لپاره دشرابو اوانسان عبادت کوي، دحیوانیت په لور روان دي اوروز مره دانتحار حادثات مخ په زیاتیدودي هلته اخلاقي معیارونه نشته، یو کارګر د مریي په حیث استعمالیږي اوادنی اختیار دخپل کار په مقابل کی هم نه لري.

کورنی نظام رنګ دی اوس غربیان د تنهایی ژوند سره مخ دي، ژوند یې هیڅ معنی نه لري، ټول ژوند یی خپګان اوپریشاني ده، چی درقص اوشرابو په محفلونو خپل وخت تیروي، چه دغه کانسرتونه هم ددوئ لپاره یوعذاب دی، ځکه ترکانسرت وروسته بیا له تنهایی او یوازیتوب سره مخ دي، داچې کمونیزم دغربي سرمایه داري نظام دیوبدیل په حیث شکست وخوړ ،نو غربي پوهان اوس داسلام په حقانیت پوه شول، چې دایوداسې نظام نه د ی، چه زوړ شي او وخت یې تیر شي، لکه چې پخوایې داسې نظر درلود، سره ددې چې بعضې غربي دولتونو له کروڅخه ځرګندیږي، چې ګني اسلام اوس دیوعملي نظام په حیث دتطبیق وړنه دی،خوبیاهم اسلام یواځینی هغه روحي اواجتماعي بدیل دی، چه نړۍ به د ځان وژنې له دغه ځپوڅخه بچوي، چې اوس پرې اخته ده اوغربی تمدن یې ورکش کاږي.

پوښتنه : په هسپانیه کې داسلام حالت اوس څنګه ارزوئ؟

ځواب : اسلام ا وس هره ورځ مخ په وړاندې روان دی، هسپانویانو اوس اسلام ته مخه کړې اوزیات عدد خلک اوس روزمره اسلام قبلوي، همد اراز هغه مهاجر چې اصلاً مسلمانان دي، هسپانیه کې مخ په زیاتیدودي ،خومسلمانان اوس هم دلته لږ دي او زیات عدد هسپانویان اوس دوی ته دویرې او ترس په نظر ګوري او ۱۹۳٦ کال جنګونه وریادوي ،خودایې له ویرې ایستلې، چه له مسلمانانو سره په هسپانیه کی په پینځلسم، شپاړسم اواولسم قرن کی کوم وحشتونه وشول ،څومره اجتماعي وژنې سوځونې اوداسلامي اثارو تخریب اوله منځه وړنې تر سره شوي.

ابو ظهیر

د اسلام غزوات او سرایا

دعبدالله بن انیس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سریه

دمحرم الحرام په پنځمه او د دوشنبې په ورځ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خبرشو چې خالد بن سفیان هذلی ولحیانی درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره دجنګ لپاره لښکر غونډوي، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عبدالله بن انیس انصاري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دهغه په قتلولو پسي ولیږه.

عبد الله بن انیس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ لاړ،له هغه سره یې خبرې اوکیسې شروع کړې، کله چې یې ښه پوره چانس وموند ورځګ شو قتل یې کړ، او سر یې له تني څخه پریک کړ، او په منډه ووت لاړ په یو غار کې پټ شو،غنه راغله د غار په خوله کې یې جال خور کړ، کوم خلک چې دهغه په لټون پسې راوتي وو، هغوی چې دغار خولې ته راغلل وي لیدل دغار په خوله کې دغنمو جالونه غورولي نو بیرته ستانه شول کله چې شپه شوه عبد الله بن انیس له غار ه ووت دشپې به یې سفر کاو او دورځې به پټهدو تردي چې دمحرم په ۲۳مه نیټه مدینې منورې ته ورسید او دخالد سریې درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مخکې کیښود، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زیات خوشال شو، او ورته یې په تحفه کې یوه امسا ورکړه بیا یې ورته و فرمایل:

تحصر بهذا فی الجنة فان المتحصرین فی الجنة قلیل.

ژباړه: دا امسا واخله اوپه جنت کې په دې سره ګرزه، څکه په جنت کې په امسا ګرځیدونکي به شاذو نادر وي

هم یې ورته وفرمایل: دا زما او ستا ترمنځ دقیامت په ورځ نښه ده.

عبد الله بن انیس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ هغه امسا له ځان سره ټول عمرساتلې وه او دمرګ په وخت کې یې وصیت وکړ چې امسا زما په کفن کې کښږدئ، کله چې وفات شو هم داسې یې وکړل(الطبقات الکبری لابن سعد ۲ټوک ۳۵ مخ زرقاني زرقاني ۲ټوک ۶۳مخ زاد المعاد۲ټوک ۷۱۰۹)

موسی بن عقبه وایي: خلک وایي :چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دعبد الله بن انیس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دراتلو څخه وراندې دخالد بن سفیان دمرګ خبر ورکړی و.

درجیع واقعه:

دصفري میاشت وه دعضل اوقاره په نوم قبیلې ځیني خلک درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په

خدمت کې حاضر شول او عرض يې وکړ : زمونږ قبيلې خلکو اسلام قبول کړی دی، ته مونږ سره څو کسان وليږه چې هغوی هلته مونږ ته دقرآن را زده کوي او داسلام حکمونه راښيي.

دا دابن سعد روايت دی،دبخاري په روايت کې دي چې دغه لس کسان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مکه کې دقريشو دخبر معلومولو په غرض وليږل دا تعجب ورنده چې په لومړي سر کې دهغوی دليږلو هدف هم دا و ليکن دعضل او قاره قبيلې په راتلو يې هغوی دقرآن او اسلامي حکمونو شودلو په غرض دهغوی سره وليږل

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کوم لس کسان له هغوی سره وليږل دځينو نومونه دادي:

١عاصم بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ٢ـ مرثد بن ابي مرثد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ٣ـ عبد الله بن طارق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ٤ـ خبيب بن عدی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ٥ـ زيد بن فردثنه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ٦ـ خالد بن البکير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ٧ـ معتب بن عبيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دعبد الله بن طارق علاتي ورور.

کله چې هغوی درجيع په نوم ځای ته ورسيدل کوم چې دمکې او عسفان ترمنځ راځي دعضل قبيلې خلکو له مسلمانانو سره غداري وکړه اوبنو لحيان قبيلې خلک يې په هغوی باندې خبر کړل، بنو لحيان دوه سوه کسان چې سل پکې غشي ويشتونکي وو دمسلمانانو په تعقيب پسې روان کړل کله چې ورنيږدي شول حضرت عاصم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دملګرو سره يوځای يوې غونډی ته پورته شو،بنولحيان مسلمانانو ته وويل: تاسو راښکته شئ مونږ درته آمان درکوو.

حضرت عاصم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل: دکافرانو لخوا په پناه راکولو به هيڅکله کوز نشم

او دا دعاء يې وغوښته:

اللهم اخبر عنا رسولک

اې الله خپل پيغمبر زمونږ دحال نه خبرکړي!

دا دبخاري روايت دی، د ابوداود طيالسي روايت دی: چې دحضرت عاصم دعاء الله قبوله کړه ا و هم هغه وخت دوحي له لارې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خبر شو او رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابه هم خبر کړل.

او هم داشان حضرت عاصم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دغه مهال دادعاء و وغوښته:

اللهم اني أحمِي لک اليوم دينک فا حمِ لِی لَحمِی

يا الله!نن زه ستا دين دفاع کوم ته زما دغوښې يعنې زما دبدن له کافرانو څخه وساتي.

هم هلته حضرت عاصم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له اوو ملګرو سره يوځای وجنګيد او شهيد شو، عبد الله بن طارق ، زيد بن دثنه اوخبين بن عدی دريواړه دمشرکانو لخوا دامان ورکولو په ژمنه له غونډی ښکته شول خو مشرکانو دهغوی سره هم غداري وکړه هغوی دربواړه يې و تړل، عبد دالله بن طارق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل:

دا لومړی غدر دی او نده معلومه چې نوربه څه سلوک کوي له دې وجې يې ور سره دتلو نه

انکار وکړ مشرکانو هغه هم هلته شهید کړ او حضرت خبیب بن عدی رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ او حضرت زید رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ یې دځانو سره مکې ته بوتلل.

هلته په مکه کې صفوان بن امیه چې پلارېې په بدر کې وژل شوی و، هغه حضرت زید دخپل پلار په عوض کې وژلو لپاره واخیسته، دحضرت خبیب رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ په لاس په جنګ بد رکې حارث بن عامر وژل شوی و، له دې وجې حضرت خبیب دحارث ځامنو واخیست(بخاري شریف فتح الباري ۷ټوک ۲۹۲مخ)

صفوان دخپل قیدي په قتل کې تاخیر غوره ونه ګانه دخپل غلام نسطاس سره یوځای یې دتنعیم نه بیرون دقتلولو لپاره واستاو، او دقتل دنندارې ته دقریشو یوه ډله خلک په تنعیم کې را جمع وو، چې ابوسفیان بن حرب هم پکې و

کله چې زید رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ یې دقتلولو لپاره مخکې کړ نو ابوسفیان ورته وویلي:

زیده! زه تاته په خدای سوګند درکوم ایا ته دا خوښوي چې ته خلاص شي او ستا په بدل کې محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قتل کړای شي او ته په ارام سره پخپل کور کې وي.

زید رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ وویلي

په خدای سوګند ماته دا دزغم ځخه بیرون ده چې درسول الله رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ په پښه کې یو ازغی لاړشي او زه دې پخپل کور کې ناست یم.

ابوسفیان وویل:

په خدی سوګند ما په هیچا کې دومره محبت او مخلصانه دوستې نده لیدلې څنګه چې دمحمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ملګري په محمد باندې فدا او قربان دي.

بیا نسطاس حضرت زید شهید کړ، رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ (ابن هشام ۲ټوک ۱۲۱مخ)

هوانسطاس وروسته په اسلام مشرف شو ی. رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ

نوربیا ...

لیکوال: حامد افغان

د بلخ متقي امیر

امام السرخسي رحمه الله وایي: دبلخ یوه امیر له علماو نه فتوي وغوښتله چې په قسم کې حانث شوي، څنګه کفاره پریکړي؟ هغوی ورته وویل: دری روژې ونیسه. امیر چې خپلو درباریانو ته ورغی اوکیسه یې ورته وکړه نو په ژړاشو.. او ویې ویل: هغوی ماته څکه د روژو نیولو فتوا راکړه او لسو مسکیانونه ته د دوه وخته ډوډۍ ورکولو فتوا یې رانکړه څکه هغوی فکرکوي چې زما شتمني ټوله حرامه ده.

دبلخ اوشاوخوا موجوده امیران په هم کله دومره دقیق سوچ کوي او دخپلو شتمنیو دومره اندیښنه به لري.

کلیسای غرب

و عملیه‌ء رهبرسازی برای عالم اسلام

مولوي عبدالمهيمن حقاني

داکتر (صموئیل مارینوس زویمر) یکی از بزرگترین و مشهورترین مبلغان کلیساهای امریکا برای عالم اسلام بود، او که در سال ۱۸۶۷م در (میشیگان) امریکا به دنیا آمد و در دانشگاه های مسیحی امریکا چون hope college و مدرسه‌ء لاهوتی نیوبرونزویک علم لاهوت مسیحی را فراگرفت و به سند (دوکتورا) نائل گردید در نتیجه‌ء کوششهای پی در پی اش از بارز ترین استادان مبلغین مسحی جهان غرب به عالم اسلام گردید، و در کار پخش مسیحیت و دشمنی با اسلام تا آنجا به پیش رفت که غرب وی را (رسول مسیحیت به عالم اسلام) نامید. داکتر (صموئیل مارینوس زویمر) ۲۷سال مسلسل در کشورهای اسلامی به دعوت به مسیحیت پرداخت و از تعلیم، خدمات صحی، نشر کتاب، اجتماعات، مناظره ها، سیمنارها، خطابه ها در مجامع علمی و دانشگاها، توظیف صدها منصر- (مبلغ مسیحی) و شیوه های دیگر تأثیر گذاری در راه پخش مسیحیت در مجتمعات اسلامی کار گرفت، و سالها را در کشورهای اسلامی چون بحرین، سعودی، مصر، فلسطین، سوریه، ترکیه، هند و کشورهای اسلامی دیگری گذراند، و راهکارها و برنامه های مفصلی را برای مبلغین نصرانی و کشورهای استعماری غرب در امر تأثیر گذاری بر مسلمانها و (جنگ عقیدوی) با انها از خود بجا گذاشت که حرکت جهانی تنصیر امروز در جنگ با اسلام و مسلمانها از آنها استفاده میکند و به اشکال و کیفیتهای گوناگون و در مراحل مختلف برای تنفیذ و تطبیق پلان های بجا گذاشته‌ء وی مصروف عمل اند.

داکتر(صموئیل زویمر) اشغال کشورهای اسلامی را توسط غربیها فرصت طلایی برای پخش دعوت مسیحیت در عالم اسلام میدانست، و از همینرو همگام با نیروهای غربی ده ها سال سعی کرد تا مسلمانان را از اسلام منصرف و به مسیحیت آشکار دعوت کند، ولی او در نتیجه‌ء تجربه هایش با مسلمانان دریافت که مسلمانان حقیقی هیچگاه دعوت صریح وی را که گراییدن به دین مسیحیت است نمی پذیرند و تنها چند تن از آن مسلمان نما ها از وی

پیروی کرده اند که مسلمان حقیقی نبودند. او به ناکامی خود درین عرصه چنین اعتراف می کند: ((وقتهای زیادی را در دعوت مسلمانان صرف کردیم، و مصاریف هنگفت مالی را متحمل شدیم، و تا جای که در توان ما بود کتاب نیز نوشتیم، و خطابه ها ایراد نمودیم، و لکن با وجود این همه مساعی نتوانستیم مسلمانان را از اسلام به مسیحیت بکشانیم، جز آنهایکه دین جدید خود (نصرانیت)را بر اساس هوسرانی هاقبول نمودهاند. کاری را که ما انجام میدهیم شباهتی به مسخره دارد بجای اینکه کار جدّی ای باشد.((

بعد از آنکه منصرین غربی از نصرانی شدن مسلمانها نا امید گردیدند طریقهٔ دعوت خود را عوض کردند، و بجای اینکه در سعی (نصرانی سازی) آنها گردند بر این اکتفا کردند که مسلمان را (نا مسلمان (سازند گرچه نصرانی نه شود. پس همان بود که کلیسا های غرب در کشورهای اسلامی مکاتب، دارلایتام ها، دانشگاه ها و ادارات تعلیمی دیگری را بنامهای گوناگون گشودند وفرزندان مسلمانها را درآن جذب کرده وبر روحیهٔ غربگرایی وسیکولریزم تربیه نمودند.

نصاب های را که این ادارات تعلیمی در کشورهای اسلامی تدریس می نمودند گرچه تعلیمات صریح (نصرانیت) را در اکثر جاها در بر نداشت اما در عین وقت آن نصابها از روحیه و تعلیمات و ارزشهای فکری و معنوی و اخلاقی اسلامی نیز بی بهره بود، و اذهان شاگردان را بر روحیهٔ (لیبرالیزم) و (مادی گرایی) عیار می ساخت، و زندگی و ارزشهای مجتمات غربی به آنها بطور الگوی قابل تقلید تلقین میکرد.

در نتیجهٔ کوششهای کشیشهای مبلغ و مشاوران تعلیمی غرب نسلی از فرزندان مسلمانها در کشورهای اسلامی بوجود آمد که تنها نامها و نسبتهای شان اسلامی بود، ولی فراتر ازین در همهٔ ابعاد زندگی سیاسی، اجتماعی، فکری، اخلاقی و معیارهای مادی و معنوی برای زندگی غربگرا بودند، و زندگی و نظامهای سیاسی را در کشورهای شان طوری عیار ساختند که شریعت اسلامی در آن وجود نداشته باشد.

صمویل مارینوس زویمر ازین شیوهٔ جدید تأثیر گذاری مبلغان غربی و تأثیرشان بر مجتمعات اسلامی در یکی از کنفرانسهای تنصیری چنین یاد آوری میکند: ((ای مبلغ مسیحی! وقتیکه مسلمانی را در رابطه به اسلام متردد و مذبذب سازی، و به اسلام صدمه بزنی، موفق و پیروز میباشی .همین تذبذب او اگر چه مسیحی نشود کافی است)). و همچنین افزود: ((وظیفهٔ تنصیر که دولتهای مسیحی شما را بهدف اجرای آن به کشورهای محمدی فرستاده این نیست که مسلمانان را حتما نصرانی سازید، بلکه وظیفه و مکلفیت شما اینست که مسلمان را (نا مسلمان) سازید؛ زیرا نصرانی گردانید او برای وی هدایت و اعزاز است. وظیفه شما اینست که او را مخلوقی بگردانید که رابطهٔ با الله نداشته باشد، و از همهٔ آن اخلاق و ارزشها محروم گردد که ملتها در زنده گی خود بر آن

اعتماد می کند، و شما به انجام این کارتان پیش آهنگان فتح استعماری در کشور های اسلامی می گردید. این کار را شما به بهترین شکل اش در صد سال گذشته انجام داده اید، من و دنیای مسیحی به سبب این دست آورد شما به شما تبریک میگوییم. درین مقطع تاریخ ما بر تمامی برنامه های تعلیم در جهان اسلام تسلط یافتیم.((

تنصیری ها از چندین طریق بر جریان های تعلیمی در کشور های اسلامی تسلط پیداکردند، آنها هم از طریق ادارهٔ)یونیسکو) وزارتهای تعلیم و تربیه را در کشورهای مسلمان به این وادار کردند که نصاب های تعلیمی خود را از تأثیرات دینی اسلام تخلیه کنند، وهم درین کشورها در کنار مکاتب و ادارات تعلیمی حکومتی ادارت تعلیمی ای دیگری از خود افتتاح کردند.

از جملهٔ ادارات تعلیمی ای که کلیساهای امریکا بهدف تقدیم تحصیلات عالی و رهبرسازی برای مسلمانها تأسیس نموده اند یکی هم سلسلهٔ دانشگاه های امریکایی است که در لبنان، مصر، ترکیه، نایجیریا، و کشورهای دیگر اسلامی اند. این دانشگاه ها از طرف (مجمع کلیساهای پروتستانت) امریکا تأسیس تمویل و اداره میشوند. کادرها و رهبرانی را که این دانشگاه ها در کشور های اسلامی بوجود آورده است آنها نه تنها اینکه کشورهای عالم اسلام را طبق فرمایشات و قوانین غربی اداره میکنند بلکه در همهٔ این کشورها از حاکمیت شریعت اسلامی به تمام معنی جلوگیری نیز کرده اند .

دشمنی ای را این پروردگان نصابهای غربی و شاگران مبلغین کلیسای غرب با حاکمیت اسلام و ارزشهای معنوی و اخلاقی اسلام دارند شدیدتر از دشمنی خود غربیها است.

دیروز اگر مبلغان نصرانی کلیسای غرب بطور افراد و گروپهای کوچکی در عالم اسلام مصروف دشمنی با اسلام بودند ولی امروز در نتیجهٔ تغییر شیوهٔ تأثیر گذاری از (تنصیر) به (تعلیم) بر روحیهٔ لیبرالیزم و (دین ستیزی) بطور حکومتهای مسلط بر کشورها و مجتمعات اسلامی به پیمانهٔ وسیعی توسط فارغان همین ادارات تعلیمی و دانشگاه ها مصروف جنگ اند.

دیروز کشورهای صلیبی غرب در زیر بیرق صلیب نیروهای خود را وارد صحنهٔ نبرد با اسلام و مسلمان ها میکردند که غربیها خود نیز در آن جنگها صدمه میدیدند و متحمل زخم و مرگ میشدند، اما امروز آنها در ادارات تعلیمی و در نتیجهٔ نصابهای تحمیلی بر عالم اسلام رهبران و مسؤولینی را تربیه کرده و بر عالم اسلام مسلط نموده اند که میلیونها فرزند مسلمانان را برای تحقق بخشیدن به آرمانهای کلیسای غرب که دشمنی با اسلام و جلوگیری از حاکمیت شریعت است وارد میدان نبرد نموده اند که بجای غربیها خود در مقابل مجاهدین بجنگند.

رهبرانیکه در نتیجهٔ تعلیم (غربی گونه (پیروان غرب گشته اند همهٔ شان بلا استثناء حکومتها و نیروهای جنگی کشورهای اسلامی را در جنگ با اسلام قرار داده اند، و امروز همهٔ

ارتشهای کشورهای جهان اسلام بجای اینکه در دفاع از دین و سرزمین مسلمانها باشند با تمام قساوت و شدت در جنگ با ملتهای خود مصروف اند، و بمب و بارود و اسلحهٔ را که ازمالیات و دارایی های ملتهای مسلمان میخرند آتش اش را دوباره برسرهمین ملتها میریزانند.

مستشرق فرانسوی (لویس ماسنیون) که مشاور وزارت خارجه فرانسه، متخصص زبان عربی و و امورجهان اسلام، و یکی از مبلغان پرکار در مصر بود همواره به کشورهای اروپایی و امریکا برین تأکید میکرد که باید این کشورها ذکاوتمندترین فرزندان جهان اسلام را برای آموزش در ادارات تعلیمی و دانشگاه های خود بپذیرند، تا آنها در کنار علم از فکر، عقیده، فرهنگ، سلوک و صبغهٔ زنده گی غربیها نیز رنگ بگیرند، و بعد از فراغت در کشورهای شان به مناصب و مسؤولیتهای علیای برسند. و وقتیکه آنها زمام امور کشورهای خود را بدست آرند با تمام رغبت و قناعت قلبی در مستعمره ساختن سرزمینهای اسلامی دست با مستعمرین غربی یکی میکنند و در تسخیر ملتهای مسلمان با غربیها یکجا کار می کنند.

لویس ماسینیون همیشه به مسؤولین کلیسا ها و زمام بدستان امور تعلیم و تربیه در اروپا توصیه میکرد که از فرزندان مسلمان ها مشتاقانه استقبال کنند و فرصتهای را ایجاد کنند که جوانان مسلمان در اروپا از (تمدن مسیحی) رنگ بگیرند.

لویس ماسینیون بر شاگرد و فادارش (میشل عفلق) که بعدها مؤسس حزب بعث عربی در عراق و شام و یکی از فیلسوفان نشنلست عرب گردید بسیار می بالید، و در رابطه به شخصیت وی می گفت: که (میشل عفلق (از نابغه ترین و گران مایه ترین شاگردان من است.

ادارات تعلیمی ای را که مسیحیها در کشورهای اسلامی ایجاد کرده اند در محیط های تعلیمی و شیوه های پرورش بر تشویق جوانان به رفتن به غرب و به تلقین به اینکه غربیهای مسیحی دشمنان مسلمانان نیستند تأکید میکنند. در کنار دو هدف یاد شده محصلین خود را بر روحیهٔ آزادی غربیگونه که در حقیقت آزادی از دین و ارزشهای اخلاقی مسلمانان است، و به نظریهٔ آزادی زنان به شیوهٔ غربی و به تبلیغ برنامهٔ تحدید نسل و تقویهٔ نظریهٔ نشنلیزم و به مسخره گرفتن علمای دین عیار میسازند.

خطرناکترین مؤسسهٔ تعلیمی ای را که کلیسا بهدف ایجاد نسل جدید از رهبران غربگرا برای عالم اسلام تأسیس نموده همانا) دانشگاه امریکایی بیروت) در لبنان است. این دانشگاه که تقریبا یک ونیم قرن قبل در بیروت توسط کشیشهای امریکایی تأسیس شد، نسلی از رهبران و مدیران را تربیه نمود که بغیر از جنگ و فعالیتهای نظامی کشورهای عربی را برای غربیها تسخیر نمود، و شریعت اسلامی را از زنده گی سیاسی و اجتماعی و اقتصادی ملتهای آن سرزمینها برداشت.

خطرناکترین دو شخصیت افغان که عبارت از)زلمی خلیلزاد) و (اشرف غنی احمدزی) اند نیز شاگردان منصرین امریکایی در همان دانشگاه امریکایی بیروت استند.

خدماتی را که این دو شخصیت دست نشانده استادان کلیسایی دانشگاه بیروت به امریکا انجام داده ثمرهٔ تلخ آن خدمات را ملت افغانستان برای چندین دههٔ دیگر خواهد چشید.

زلمی خلیلزاد و اشرف غنی احمدزی که همسر اولی (یهودی)، و همسر- دومی (نصرانی) است هر دو از جملهٔ مغزهای نهایت فعال و اشخاص نهایت و فادار وارزنده برای امریکا اند، و از جهت همین اهمیت در مناصب علیای ادارات پلانگذار وسیاست ساز امریکا قرار گرفته اند.

زلمی خلیلزاد فارغ التحصل دانشگاه امریکایی بیروت بحیث پژوهشگر و خبیر امور افغانستان و جهان عرب ابتدا در وزارت خارجه و سپس با (کاندولیزارایس) در ادارهٔ امنیت ملی و بعد از آن بطور طراح موافقتنامهٔ (بن) برای اشغال افغانستان، و بعد از اشغال افغانستان توسط امریکا بطور سفیر امریکا در کابل و سپس بطور سفیر امریکا در عراق و اخیرا بطور سفیر امریکا در سازمان ملل متحد برای امریکا خدمت نموده است.

و اشرف غنی نیز که فارغ التحصیل همین دانشگاه امریکایی است بطور پروفیسر- در دانشگاه های امریکا و مأمور بانک جهانی و خبیر امور افغانستان و منطقه برای رسانه های انگلیسی و امریکایی و همچنین بطور مامور عالیرتبهٔ ملل متحد در کنفرانس (بن) برای اشغال افغانستان، و بعد از آن به حیث رئیس دانشگاه کابل و سپس بحیث وزیر مالیه در حکومت دست نشاندهٔ امریکا برای افغانستان خدمت نموده که در پاداش همین خدمات مخلصانه اش از طرف (جان کیری) وزیر امور خارجهٔ امریکا بحیث رئیس جمهور افغانستان تعیین گردید.

زلمی خلیلزاد نه تنها اینکه خدمات سیاسی، استخباراتی و اداری را به نظام امریکا تقدیم نموده بلکه با اشتراک با همسر یهودی اش (چیریل بنارد) که مدیر یک بخش مؤسسهٔ تحقیقاتی (رندکارپوریشن) است یک طرح خطرناکی را بهدف تحریف اصل اسلام بنام Civil Democratic Islamنیز به امریکا تقدیم نموده که هدفش جاگزین ساختن یک اسلام (ساخت امریکا) بجای)اسلام حقیقی) در زندگی مسلمانان در عالم اسلام است.

اگر زلمی خلیلزاد با همسر یهودی اش طرح تحریف اسلام را ریخته، اشرف غنی با همسر- نصرانی اش (رولا) عملا برای تطبیق و پخش همان اسلام امریکایی از طریق حکومت، مؤسسات غربی و نهادهای سیکولر بنام جامعهٔ مدنی دست به کار شده اند.

کلیسای غرب و حکومت امریکا وقتی نتائج دلخواهش را از فعالیتهای تعلیمی در کشور های جهان اسلام مشاهده نمود تشویق شدند تا

بعد از اشغال افغانستان علی الفور دانشگاه امریکایی را در پایتخت افغانستان کابل نیز بنا نهادند، تا ماشین رهبر سازی خود در افغانستان و منطقه نیز فعال نمایند، و این در وضعیتی بود که افغانستان هنوز در آتش جنگ میسوخت، و آن استقراری هم بوجود نیامده بود که برای پیشبرد همچو پروژه های بزرگی ضروری پنداشته میشود.

دانشگاه امریکایی کابل که زیر سرپرستی زلمی خلیلزاد سفیر امریکا در افغانستان بوجود آمد هدف و رسالت خود را که رهبر سازی برای افغانستان و منطقه است در معرفی نامهٔ خود چنین اعلام داشت)) :دانشگاه امریکایی افغانستان به ارائهٔ آموزشهای عالی به سطح جهانی به هدف ایجاد رهبران برای پاسخگویی به نیازهای افغانستان و منطقه آماده شده است، این رهبران قادر خواهند بود که به تفکر انتقادی با چالشهای جهان به سرعت در تغیر مقابله کنند، و دستیابی به قیادت در مجالهای تجارت، تعلیم و تربیه، خدمات اجتماعی، حکومت، قانون، روابط بین المللی و سکتور های دیگری حاصل نمایند.((

ووقتیکه این دانشگاه امریکایی مراسم فراغت اولین دسته از فارغانش را در سال ۱۳۹۰هـ ش دائر نمود، سفیر امریکا در آن زمان جنرال (کارل آیکنبیری) در ضمن سخنرانی اش در آن مراسم در رابطه به اهداف ورسالت دانشگاه کلیسایی امریکایی چنین وضاحت داد: ((این دانشگاه برنامه دارد تا در آینده نسلی را در افغانستان تربیه نماید که قیادت امور اقتصاد و تجارت، تکنالوژی معلوماتی، قانون و حکومت داری در آیندهٔ افغانستان و منطقه بدست شان باشد.((

در دو اعتراف صریح فوق ثابت گردید که)دانشگاه امریکایی کابل) و سفیر ایالات متحده هدف از فعالیت های تعلیمی خود را (رهبرسازی) برای فردای افغانستان و بدست گرفتن زمام امور حکومتداری و قیادت در افغانستان و منطقه است.

امروز در تمام عالم اسلام زمام قیادت و رهبری نظامی بدست آنهای سپرده شده است که یا فارغان مکاتب و دانشگاه های غربی اند، ویا هم پروردگان نصابهای تعلیمی ای اند که غربیها و پیروان شان آن را در کشور ها اسلامی تطبیق نموده اند.

بعضی از خطرناکترین کارهای را که پیروان غرب وپیام گیران کلیسا در کشورهای اسلامی انجام داده اند از قرار ذیل اند:

.۱دور ساختن شریعت اسلامی از زندگی سیاسی، اجتماعی، اقتصادی افراد و مجتمعات در کشور های اسلامی.

.۲جاگزین نمودن قوانین وضعی بجای شریعت اسلامی.

.۳پخش و تطبیق (سیکولریزم) در مجتمعات اسلامی.

.٤وابسته ساختن کشورهای اسلامی به کشورها و نظامهای غربی در سیاستهای داخلی وخارجی، اقتصاد و ابعاد دیگر زندگی.

.٥پخش و نشر نظریهٔ غربگرایی میان ملتهای مسلمانان در کشورهای شان.

.٦ایتلافها با کشورهای استعماری غرب در جنگ بر ضد جهاد و مجاهدین در تمام جهان.

.٧براه انداختن جنگ فکری و فرهنگی از طریق فرهنگ، تعلیم، و رسانه های همه گانی بر ضد عقاند، احکام و تصورات اسلامی، و در تنگنا و فشار نگهداشتن دعوتگران اسلام.

صدمهٔ را که سیکولرها و غربگراها به شریعت و فرهنگ اسلام و همچنین به مجتمعات اسلام رسانیده اند اندازه اش به مراتب بالاتر از ضرری است که کلیسا در چندین قرن گذشته رسانیده بود. چون در نتیجه دعوت کلیسا شاید از هرچند صد میلیون یکتن به نصرانیت می گرایید و در دشمنی با اسلام قرار میگرفت، ولی امروز دنیای غرب و کلیسا از سیکولریزم، دیموکراسی، حقوق بشر به تعبیر غربی اش، حرکت آزادی زنان، غربی سازی، و آزادی از هر قید و بند دینی و اخلاقی برای (نامسلمان) ساختن مسلمانها بطور وسائل کارگرفته اند امروز می بینیم که در نتیجهٔ کوششهای جدید نظامهای غرب و کلیسا صدها میلیون مسلمان وبه میلیونها تن از نیروی های عسکری و امنیتی و استخباراتی و اداری مسلمانها در کنار دشمن قرار دارند، و در صف دشمن با اسلام ومجاهدین در جنگ استند، وبه هزار ها تن شان در راه تحقق آرمانهای دیرینهٔ کلیسا و نظامهای غرب جان میدهند ومتحمل خسارات مالی وجانی میشوند.

اینکه چگونه جلو این فتنهٔ عظیم را بگیریم، و ایمان و اخلاق و هویت اسلامی میلیونها فرزند اسلام را از (ایمان ربایان (کلیسا و یغما گران غرب چگونه حفاظت نماییم ضرورت به اندیشیدن به این حقائق و درک همه جانبهٔ از وضعیت اسفبار امت اسلامی دارد. و تا وقتیکه امت اسلام و سرزمینهای اسلامی را از تسلط این قیادتهای خود باخته و بیگانه نواز نه رهانیده باشیم شاید شاهد اوضاع بدتری از اوضاع امروز باشیم.

چون الله تعالی تغییری را در وضعیت هیچ قومی به سوی نجات و بهبودی نمی آورد تا آن که افراد آن قوم خود در تلاش فلاح و بهبودی خود نگردند.

د دیموکراسۍ په ظلمت کې د اسلامي قانون توپیر

دا
لـه انصـاف،
منطـــق او لـــه
حقیقته ډېره لـرې خـبره ده
کـه مـونږ کـوم کـوچنی او جـزئي انسـاني
قانون له الهـي قـانون سره پرتلـه کـړو او ادعـا
وکـړو چـې د دیموکراسـي او یـا هـر انسـاني
قـانون او تشـریع پلانکـي مـاده د اسـلام لـه
مربوطه قانون سره معادله ده او هاغه بلـه یـې
هم کوم تضاد ورسره نه لري!...

دا افواهـات او توجیهـات د هغـو جُهـالو
بـې نهـاده او بـې بنسـټه ادعـاوې دي چـې د
اسلام د معارف او روح څخـه نـاخبره دي او یـا
هغـه مغرضـین او مـادي مطـالبین دي چـې د
یهودو او صلیب او یـا هـم د نړیـوال جاهلیـت
په مادي غېږه کې یې ځانونه اچولي دي او یـا
هم د غـرب تجـدد خواهـه روبوټـان دي، چـې
غرب په خپله فکري جګړه او اسـتعمار کـې را
ښکېل کړي دي او د فرهنګ او تاریخ لـه بُعـد
څخـه حـبځ عـزت او فخـر پـه خپـل تـاریخ او
خپل وقار نـه لـري بلکـې غـرب د خپـل مـادي
خط او خال پـه ښـودلو سره پـه خپلـه سـیطره
کې نیولي چې د فکر له نګاه حـبځ آزادي نـه
لري او یوازې تاریخي غلامان دي....

انسـاني او الهـي قـانون او وضـع سره لـه
دې چې کوم مشابهت او ورتـه والـی نـه لـري؛
بلکې پـه یـو بـې نهایتـه واټـن او فاصـلې سره
قرار لري او هېڅ کله به سره نزدیکت او تقرب
ونکـړي، دا هرڅـه هغـه وخـت ظـاهر او
معلومیږي ،چې د دې دواړو قوانینو ثمرات او
عملي پلښت مطالعه کړی شي او کـوم نتـایج
چې په ټولنه کې له ځانـه سره لـري، هغـه بـه
سره په نه قیاسېدونکي واټن سره قرار ولري.

دا توپیرونه مونږ په پنځو دلایلو سره وړاندې کولی شو چې په لاندې ډول دي:

لومړی: کوم قوانین او احکام چې د علیم او خبیر ذات له خوا وضع شوي وي ،په پوره توګه متوازن، تول او سنجول شوي دي او د هغه خدای له خوا مقرر شوي چې د انسان او ټولې ښکاره او ناښکاره هستۍ مالک او متصرف دی او د دې هستۍ له ماضي او مستقبل څخه آګاه دی او په پوره توازن او معیار سره د بشر لپاره وضع شوي دي او په دې سره د انسان د قاصر عقل له وضعې سره په کلي توګه توپیر لري او هېڅ کله یې د انسان له قانون سره ــ که څومره ظاهري مشابهت هم ولري ــ نه شو پرتله کولی او په عملي تطبیق کې به زښت ډېر توپیر ولري.

د انسان طبیعت دا نه دی چې د الله ج دخالقیت کارونه چې یو یې د قوانینو وضع ده، په غاړه واخلي او بشر ته قوانین وټاکي، که له خپل طبیعت سره په تضاد عمل وکړي نو خامخا به په اشتباه کې لویږي!

او نه هم د انسان دا قاصر او کمزوری عقل د الله ج له بشپړ علم او پوهې سره د پرتلې وړ دی، نو د دې دوه بشپړ توپیر لرونکو ذاتونو (مالک خدای او انسان) په وضع او حکم کې به اړین توپیر شته وي، اګر که ظاهراً کوم ورته والی ولري.

دویم: د قانون د وضع «هدف» دی ،چې په دې سره الهي او انساني قوانین کلاً توپیر لري، الهي قوانین د انسان د دارینو د بریا او سعادت لپاره د بنده په لاس د رب د رضا د طلب په پار پلي کیږي او هېڅ نوع مادي او شخصي ګټې په نظر کې نه نیول کیږي او یوازې د آخرت د خیر د جزا لپاره د اسلامي دولت له خوا پلي کیږي او هدف یې د انساني قانون له هدف سره کلاً توپیر لري او قابل د مقایسې نه دي .

د انساني قانون په وضع کې یوازې د یو ټولې، ګوند، حزب او یا ملت او وطن مادي ګټې په نظر کې نیول کیږي او دا هدف د انسان له ارزښت او د الهي تشریع له هر اړخیز هدف سره بیخي په نشت حساب دی.

که د الهي تشریع له تطبیق او پلښت څخه هغه بې شمېره مادي او دنیوي ګټې هم په لاس راځي؛ نو دا به د الله ج لورینه او نعمت وي او په هدف پورې به اړه نه لري، په داسې حال کې چې د الله تعالی قانون د بشر له طبیعت او خلقت سره پوره سازګار دی او په تطبیق سره به یې انسان د کونینو (دنیا او آخرت) سعید وي.

دریم: کـه چېرې د هغـه دولـت چـې بنسټ يې انسان وي؛ کوم وضعي قـانون لـه اسلامي فقهې څخه هم واخيسـتل شي، نـو بيابه هم په اسـلامي قـانون کـې نـه شـمېرل کيـږي، ځکـه د اسـلام ټـول تشرـيعات او احکـام سره تـړلي دي او قابـل د انقسـام نـه دي او که په دې ډول د اسلام يو قانون پلـی شي او نور په خپل حـال پرېښـودل شي، نـو هغه ګټه چې بايد يو قانون يې د انسان لپـاره راوړي؛ له ځانه سره ونه لري

نـو پـه دې سره کـه د ديموکراسـي پـه سـيوري کـې د اسـاسي قـانون لپـاره اسـلامي فقهې ته رجوع وشي او په خپله خوښـه تـرې احکـام را جـدول کـړی شي، نـو بيـا هـم د اسلامي احکامو ځنځير شليږي او په دې سره بيا هم دا اخراج شوي قوانين اسلامي نـه شـو ګڼلی.

ځلـورم: د تطبيـق روش او تلنلانـه ده، چې د الهي او انسـاني قوانينـو پـه تـوپير کـې لوی دخالت لري.

د اسـلام ټـول تشرـيعات چـې د الله لـه طرفه پر بشر وضع شـوي دي ،هرومـرو بايـد د نورو اسلامي قوانينو په رڼا کې تر سره شي او سبک د تطبيق يې بايد پوره او بشپړ اسلامي وي او له هرڅه اړينـه دا چـې بايـد د اسـلامي



دولت په شتون کې د اسـلامي دولـت لـه خـوا تر سره او د قانون او حکم د اجرا ټول قـوانين پـه نظـر کـې ونيـول شي او پـه خپـل ځـای او مکـان سره اجـرا کيـږي او د نـورو قوانينـو پـه شـتون کـې لـه افـراط او تفـريط څخـه ډډه کيږي.

اما انساني قوانين اکثراً په مسـتقيم ډول سره پلي کيږي او لکه اسـلامي قـوانين؛ هـيڅ قانون له يو بل سره په مطلوب او متوازنه توګه کوم ارتباط نه لري.

پـنځم: هغـه «حالـت» او شرايـط چـې د اسلامي قانون د وضعې لپاره بيـان شـوي دي؛ هيڅ د انساني قـانون د وضـعې لپـاره پـه نظـر کـې نـه نيـول کيـږي چـې دا شرايـط هـم د اسـلامي احکـامو تـرون را ښـيي چـې انسـاني قوانين له دې مزايا څخه خالي دي...

درحمت ترسیوره لاندې

دالله تعالی په مخلوقاتو کې دانسانانو په شمول یو ژوندی هم په نړۍ کې تل پاتې کېدونکی ندی؛ یوه ورځ هریوته مرګ راتلونکی دی ؛ اوچې په تقدیر دهرمسلمان ایمان دی نو داد هرمسلمان عقیده ده چې هر انسان ته د خدای د حکم سره سم په تاکلی وخت او ځای کې مرګ راځي ؛الله تعالی اعلان کړیدی چې نړۍ د فنا دار دی پرمخ یې شته تول خیزونه فنا کېدونکي دي؛ یواځې دالله تعالی ذات باقي پاتی کېدونکی.

دنیاد بقا ځای ندی نوځکه پکې نه ځوک تل پاتې شوی او نه به پاتې شي ؛ که دلویوالي له املـه دلته ځوک دهمېش لپاره پاتې کېدای نو انبیاءعلیهم السلام چې دالله تعالی ترټولومقرب اومحبوب بندګان وو هغوئ په دلته دتل لپاره پاتې شوي وای خوهغوئ هم دلته دتل لپاره باقي پاتې نه شول اوټولو دفنا له دې دارنه دبقادار ته رحلت وکړ.

نوچې انبیاء دلته تل پاتې نه شول یوانسان هم دلته دتل لپاره باقي نه شي پاتې کېدای ؛ امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله تعالی هم دهمدغوانسانانو نه یو انسان و؛ په نړۍ کې چې ورته دالله تعالی له لورې څومره عمرلیکل شوی و هغه یې پوره کړ اودلیکلي عمر دپوره کېدوسره سم ورته دتقدیر د خدایې قانون له مخې په تاکلي وخت او ځای کې مرګ راغلو .

درب په تولوپرېکړورضا دمسلمانانو مسئولیت دی دا هم زموږ د رب پرېکړه ده نوموږ ته په سر سترګو قبوله ده او وریاندې رضا خپل شرعي مسئولیت ګنو.

خودخدای پر حکم درضا اودطبعي غم اودردترمنځ چې هیڅ تضاد نشته نودامیرالمؤمنین په فراق چې د هېواد او نړۍ تول ژمن او باشعوره مسلمانان سخت غمجن دي ، زړونه یې سخت دردېدلي دي او له سترګو یې اوښکې روانې دي دا یې هغه طبعی حق دی چې خدای ورکړیدی؛ نو نه یواځې دا چې پردې غم اودرد مو الله تعالی نه ملامتوي بلکې دا د انسانانو ترمنځ د خپلمنځي ترحم او همدردی ننبه ګڼي نو ورته مقبول دی اورحم هم په همداسې رحم کونکو کوي.

هوا هرمسلمان دبل مسلمان په مرینې اوفراق خفه کېږي خودتولو مسلمانانودفراق غم یوشان نه وي ؛ که دچاسره نسبي قرابت نه وي اویا هغه لوی شخصیت نه وي نوغم یې سپک وي خوکه نسبي نېږدې قرابت وي اویا شخصیت سترووي نوبیا یې غم هم ښه ستراودروند وي بیاد شخصیتونوترمنځ هم فرق وي ؛پر چا خو افراد ژاړي؛ پر چا کلي ژاړي پر چا ولسونه او پر چا عالمونه ژاړي. امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله تعالی چې یواځنی هغه مشرو چې د نړۍ د مسلمانانو په زړونو کې یې ځای لرلو او پراسلامي هېوادونودمسلطوحاکمانونه دخپلو ولسونودناهیلې پدې سترعالم کې یواځې همده ته دنړۍ دمسلمانانو دامېد سترګې وراوړېدلې نو ځکه وایوچې نه یواځې دافغانستان مجاهد ولس بلکې توله اسلامي نړۍ غمجنه ده اوټوله پرې ژاړي .

د امیرالمؤمنین چې کوم مقام او منزلت و شاید ګڼ متعصبین به تري لاهم انکار کوي خو تاریخ به دالورمقام اولویه مرتبه هیڅکله هم پټه نکړي او زماني پس به ښه په روښانوتکو دده رحمه الله دلویوالي اولوړوالي خبره ترقیامته راتلونکو نسلونوته ثبت کړي .

که په چا کې انصاف وي نوباید داومنې چې امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله تعالی چې دکوم حرکت بنسټ کېښود اوترآخره یې چې دکوم حرکت قیادت اومشري وکړه دې قیادت دډېرې ستړې ناهیلې په حالت کې ولس اومسلمان ملت ته هغه بې ساري لوی خدمت وکړچې چابه یې تصورهم نه شوکولای.

تاسې وګورې! د روسانو د تجاوز له امله او په مقابل کې یې په شوي جهاد کې چې یو نیم ملیون افغانان شهیدان شول، او د افغانانو همدې جهاد او پکې د سترو قربانیو په نتیجه کې چې روسانو ماتې وخوړه نو افغانانو او د نړۍ د ټولو مسلمانانو د هیلو سره سم چې دلته د عدل او امن نه ډک سوچه اسلامي نظام نافذېدونکی و د قدرت په سر د ځو حریصو ځېرو د خپلمنځي جنګ له امله نه یواځې دا چې دې نظام تحقق و نه موندلو بلکې پر دې غریب ولس د شر او فساد نه ډک یو داسی دور راغلو چې حکومتي نظم بیخي له منځه ولاړ؛ پرهېواد طوائف الملوکي مسلطه شوه؛ هر زورور به د خپلې قبضې لاندې سیمې باچا و؛ د هرو دوه ښارونو تر منځ به دسرکونوپه سرد غلو او لوټمارانو په سونو پاتکونه وو؛ افغان ولس د صحت او تعلیم په شمول دژوند د ټولو اسانتیاو نه بې برخې و او د هیچاځان ، مال او عزت نه وخوندي.

دا حالت به د هرې ورځې په تېریدلو له بد نه بدتر کېدلو؛ هغه نړۍ چې افغانانو د روسانو د ستر شر نه ژغورلی وه پکې هیڅوک داسی نه و چې پدې حالت کې یې افغانانو ته لاس ورکړی وای او یایې

ددې بد حالت نه د دوئ د راویستلو لپاره کوچنی اقدام یا فکر کړی وای.

له هر لوري ناهیلي وه او دې غریب ولس هیڅوک داسی نه لیدلو چې دامید سترګې یې وراړولی وای اونه یې یو فیصد دا تمه لرله چې ګینې د دې ستر ناورین نه به یوه ورځ راووځي اویابه پدې هېوادکې دولتي نظم اونظام بیاوجود ومومي.

د نا هیلی په همدې ستر عالم کې د ستر فراست څښتن؛ د هېواد او ملت لوی غمخور، ربښتینې مدبر، د همت غر او د جرأت، حریت او دقربانی سمبول ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله د خپلو خو ملګرو سره یوځای ددې ستر شر او فساد پر ضد په یوکلي کې قیام وکړاو چې دې کوچنی ډلې ته الله تعالی په لږې مودې کې په قندهارکې ستره کامیابي ور په برخه کړه نو د افغانستان ټول حق پالونکي علماء او د دیني مدرسو طالبان ورسره یو ځای شول ؛ د طالبانو تحریک ترې جوړ شو چې ټول مجاهد ملت یې ترشا ودرېدلو اوددوئ د سترو قربانیوو په نتیجه کې دې ملت ته داسی د امن او سوکالی نه ډک نظام ور په برخه شو چې په ټول عمر کې به افغانانو د خپل سر،مال او عزت د خوندیتوب داسې احساس نه وکړی لکه پدې نظام کې یې چې وکړ، د اسعارو د تبادلې په بازارنو کې به صرافانو په خپلو پندونو پندونو پیسو څادرونه راخپاره کړل اوپه کامل اطمینان او ورته د نقصان رسېدلو له وېرې پرته به ترې خپلولونځونو اونوروضرورتونوته تلل اوله طورخم نه به دپیسو ډک موټردرېور روان کړی و اوپه خیال وخاطرکې به یې هم نه راتله چې ګینې څوک به یې پیسوته دضرر رسولو اراده وکړي.

داسمه ده چې موږ له بل هر ولس نه زیات او ستر اتلان لرو او د هر یو اتلولي په خپل ذات کې ډېره ستره ده خو که د انصاف په نظر وکتل شي نو د ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله تعالی دا اتلولي به زموږ په تاریخ کې بې ساري وي.

په افغانستان کې چې دا نظام تولې کفري نړۍ اوخصوصا امریکا ته دمنلو ورنه و نوددې نظام ، اسلام او مسلمانانو دله منځه وړلو په موخه د امریکا په مشرۍ کې لوی صلیبي اتحاد رامنځته شو ؛ دادانساني تاریخ هغه ترټولوستراتحادو چې د نړۍ بل یوطاقت یې هم مقابلې ته د راوتلو جرأت نه شوکولای او ټول ورته تسلیم وو ؛ ددې اتحاد مقابلې ته راوتل خو ډېره لرې خبره وه هغه څوک چې اوس بریتونه تاووي ددې اتحاد دنوم په اورېدوبه یې لینګي رېږدل خو ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله ددې ستر اتحاد په مقابل کې د استقامت د غر په څېر میدان کې ودرید او د شرمونکې ماتې سره ددې اتحاد د مخامخ کولو پورې یې ددې پیل شوي جهاد قیادت وکړ چې دا یقینا د نړۍ په سطحه بې ساري اتلولي ده .

څه پوره باورلرم چې تاریخ به دا یوه اتلولي هم هېره نکړي؛ پدې اړه به سم قضاوت وکړي ؛ تاریخ به هغه رحمه الله د صلاح الدین ایوبي په څېرداسلام دستروا و نامتو اتلانو څخه وګڼي نو ځکه وایو چې وفات یې داسې ستره حادثه ده چې باید ټول عالم پرې وژاړي او خصوصاًموږ خو له سترګو داوښکو پر ځای وینې توی کړو .

نو دامیرالمؤمنین دوفات غم ډېر سترطبعي غم دی خو دخوښۍ ځای دا دی چې ددې طبعي ستر غم سره د اطمینان نه ډک او د معنوي خوښۍ ډېرې لوېې خبرې اواسباب هم شته نو دا غم یې پر ټولو مسلمانانو سپک کړی ؛ دمعنوي خوښۍ اواطمینان ددې اسبابونه یې دځویادونه په لاندې ډول کوم .

امیرالمؤمنین رحمه الله تعالی له نړۍ سترګې پټې کړې خو د صلیبي اتحاد له لورې د هېواد د اشغال نه وړاندې او د اشغال نه پس یې دښمن ته دیوې کوچنۍ لمحې لپاره هم سرټیټ نکړاو نه یې په خپل عمر کومه داسې کوچنۍ خبره یا حرکت وکړ چې د افغانانو پرتاریخ تورټکی شي بلکې هره خبره او هره کړنه یې تاریخ جوړونکې وه نوهغه رحمه الله له نړۍ سترګې پټې کړې خو یوه خبره اویوه کړنه یې هم داسې نشته چې څوک ووایې ارمان چې دایې نه وای کړی !

کفري نړۍ خو کفري ده پراسلامي نړۍ مسلط کابوتول حاکمان چې تاریخ شرمونکي دي نوبه داسې حال کې دټولو مسلمانانو لپاره دامیرالمؤمنین داتاریخ جوړونکی شخصیت ډېرډافتخار وړ دی .

دامیرالمؤمنین رحمه الله په اړه ددښمن ناکامي هم دمجاهد ولس او ټول مسلمان ملت لپاره ډېر ستراطمینان خبره ده .

هو ! هغه چې د هېواد نه د یوې ورځې لپاره هم بهرون ونه وتلو خو بیا یې هم داخلي او خارجي دښمن سره له ټولو کوښښونو په ژوندي نیولو یا وژلو ونه توانېد دا د ټولو مسلمانانو لپاره د ډېرې خوښۍ خبره ده ، که دښمن د مسلمانانو دا امیر ژوندی نیولی وای دا به دښمن د ځان لپاره څومره ستره فتحه ګڼلای او مسلمانان به پرې څومره له حده زیات زوریدای؟! او که په وژلو یې دښمن توانېدلی وای نو اوس به یې څومره د خوښۍ جشنونه لمانځلای ؟!

پورته یادې شوې ټولې خبرې داطمینان اوخوښۍ نه ډکې خبرې دي خوتر ټولو زیاته د اطمینان او خوښۍ وړ خبره دا ده چې دنوي مشرتاکلوپه سرچې داحتمالي اختلاف دراپورته کېدلوکومه وېره وه الله تعالی یې کلي مخنیوي وکړ؛ که د مسلمانانو تاریخ وپلټل شي نو وینو چې په داسې وختونو کې چې یوامیرقتل یاوفات شوی د واک پر سر مسلمانان د داسې اختلافاتو ښکار شویدي چې خبره لوی قتل وقتال ته رسېدلی ده خو

دلته چې د اسلامي امارت دمشرانو او کشرانو د مبارکې مبارزې او هڅو هدف واک ته رسېدل نه بلکې د دین ،ملت اودمسلمانانودعزت نه دفاع اودصلیبي اشغال نه د هېواد ازادي او د سوچه اسلامي نظام حاکمیت دی نو په فعالو اولویومشرانو کې یوهم نه دمشرۍ غوښتنه وکړه اونه یې هم داهل الحل والعقد دشوری دپرېکړې سره خپل مخالفت بسکاره کړېلکې تولو مشرانو د ملااختر محمد منصور په نوم په هماغه شخصیت اعتماد وکړ او خپل امیر یې وټاکلو کوم باندې چې امیرالمؤمنین رحمه الله اعتماد کړی و او په ژوند یې خپل نائب جوړ کړی و.

امیرالمؤمنین چې د دېر لوی فراست څښتن و په خپلو تولو ملګرو کې یې چې ملا اختر محمد منصور د خپل نیابت لپاره منتخبولو نو ترټولو زیات اهلیت اوصلاحت یې پکې لېدلو او ورباندې یې ترټولوزیات اعتماددرلودلو؛ د امارت داهل الحل والعقد شوری هم دهمدې زیات اهلیت اوصلاحیت درلودلو په اساس نومورۍ خپل نوی امیر جوړ کړ چې سمدستي ورسره دامارت لویو او وړوتولو مسئولینو ،عاموامجاهدینو، دهېوادجیدو علماءکرامو او دهېود عامو مخلصو مسلمانانو بیعتونه پیل کړل اوښه په دیني جزبې اوکامیابۍ الحمدلله دالرۍ روانه ده.

مکاردښمن ددرز اچولو دپرې هڅې کوي اودنړۍ مسلمانانوته دتشویش وراچولو او دولس دبې اعتماده کولو په موخه دخپلو غلامو رسنیو له لارې پدې اړه دېر زیات پوچ تبلیغات کوي او وایي چې دنوي امیر دټاکلوپرسرطالبان داختلافاتو ښکاردي ؛ دلته هیڅ اختلافات نشته ؛ په لوړه اوټیټه کچه داسلامي امارت تولو مسئولینو دنوي امیرسره بیعت کړی دی ؛ دخوښۍ ځای دادی چې کوم خلور پنځه نومونه چې دنارضایت په عنوان په رسنیو کې یادېږي هغوئ هم پرنوي امیر دبې اعتمادۍ اظهارندی کړی اونه یې داختلاف بیرغ پورته کړیدی ؛ که دکوم یو نیم غړ په مخالفت کې پورته شوی هم وي دهغه مخالفت ته اختلاف نه بلکې خلاف ویل کېږي چې ان شاءالله تعالی دېر ژربه داخلاف هم الله تعالی له منځه یوسي اوددښمن دتولو هڅوناکامي به الله تعالی تولې نړۍ ته بسکاره کړي .

ولس او ټول مسلمان ملت دې مطمئن وي چې زموږ نوی امیر به هم د ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله تعالی په نقش قدم روان وي، دبهرني اشغال نه دهېواد اوملت ترآزادۍ اودلته دسوچه اسلامي نظام ترقائمېدلو به جهاد جاري ساتي هیڅکله به هم د خپل اصلي موقف نه تېر نه شي؛ نه به د عالي اهدافو په سر دچا سره سودا وکړي؛ نه به ددښمن اشغال ومني؛ نه به خپل مسیر پرېږدي اونه به هم دښمن ته سرټیټ کړي ان شاء الله تعالی.

د ثالث عمر په یاد کې

ضیاء حقمل

مرحوم امیرالمومنین ملا محمدعمر مجاهد (رحمت الله علیه) چې د خینو مخلیصو مسلمانانو له خوا د عمربن خطاب(رضی الله عنه) او عمربن عبدالعزیز(رحمت الله علیه) څخه وروسته د مسلمانانو د یو ستر ، زړه سواندي او مخلص مشر- په حیث د عمر ثالث یا دریم عمر په لقب هم نومول شوی وو، خپل ټول عمر یې د اسلام د مبارک دین ته په خدمت کې تیر کړ.

امیرالمومنین ملا محمدعمرمجاهد(رحمت الله علیه) د اسلامي نړۍ د تاریخ د پانو د یوه داسې څیرې حیثیت وګاټه چې هیڅ چا هم دا یقین نه درلوده چې د شلمې پیړۍ د پای او د یو وشتمې د پیل په کلونو کې به مسلمانان یو داسې مخلص، متقي، مجاهد، صابر، مدبر، صادق او امین امیر ولري، چې خپل ټول ژوند به دقران او سنت په طریقه تیروي، د اصحابو کرامو د دور یوه ژوندی نمونه به وي، د خپل فولا دي عزم په برکت به د نړۍ د دوه ستر زبرځواکو قدرتونو په وړاندې ودریږي، دمسلمانانو کفري دښمنان او داخلي منافقینوته به غابنې ماتونکی ځواب ورکوي، په نړۍ کې په مختلفو برخو او توتو ویشل شوي مسلمانان به د وحدت په صف کې را ټولوي، له پیړیو پیړیو انتظار وروسته به په عملي ډول اسلامی نظام حاکموي، شریعت به پلی کوي او د هر قسم مشکلاتو سره له خپل شرعی موقف څخه به یو اینچ هم نه شاته کیږي.

که د هغی ژوند ته په دقیقه توګه سره نظر وشي، نو هغی د نړۍ ددې زمانې د ټولو امیرانوسره متفاوت ژوند درلوده هغی هیڅ کله هم په راحت، ارامی، خوندونو، مزو او چرچو کې یو ساعت هم تیر ندی تیرکړی، بلکه خپل ټول ژوند یې د اسلام د یو داسې غازي په توګه تیر کړی دی چې تقریبا دنړۍ په سطحه له ټولو کفري او طاغوتي نظامونو او اسلام دښمنه عناصرو سره یې مقابله کړی، او پدې لاره کې یې د بې شمیرو تکالیفو برسیره څو واړې زخمونه هم لیدلي دي.

امیرالمومنین د خپل انساني طاقت مطابق ټول هغه کارونه وکړل چې د یو رښتیني امیرالمومنین څخه یې هیله کیږي اوټولو مسلمانانو ته یې د تشې وینا پرځای د عملي مبارزې، قربانی او سرشندنې درس وښود.

هغی د نړۍ په سطحه په ټولو مسلمانانو کې یې دویښتابه یوه روحیه پیداکړه او خپل شاته یې په سرو

وینو ګټل شوی یو داسې اسلامی امارت پریښود چې ټول مجاهدین یې د وحدت مثالي نمونې دي، په هره برخه کې منظم تشکلات لري، خپل شرعي هدف په کلکه تعقیبوي، دخپلوټولو امیرانو پوره پوره اطاعت کوي .

دا د الهی نظام دستور دی چې هر څوک پرته له هغه تل پاتې ذات څخه فنا کیدونکي دي، نو د یو حرکت محرک یا بنسټګر هم هیڅ تل نه وي ژوندی بلکه د بنسټ ډ بره کیدي او نور خلک بیا د غه کار مخته بیایي نو امیرالمومنین هم پوره کاروان پریښی دی، چې ان شاالله ترقیامته پورې به دا سلسله جاري وي.

زه پدې لنډې مقالې کې د امیرالمومنین په ژوند او خدماتو نه غږیږم، ځکه چې په یوې مقالې کې داکار ناممکن اونا مناسب دی پدې باندې پوره پوره کتابونه لیکل غواړي ،خو دا مي د مقدمې په ډول خبره ذکر کړه پدې مقاله کې مي د خپل یو ملګري یو دوه هغه خاطرې په نظر کې نېولي دي چې ماله ده نه اوریدلي دغه ملګری د طالبانو د تحریک د پیل په وختونو کې له امیرالمومنین سره څه موده نږدې پاتې شوی وو.

ملګری وایي کله چې د تحریک ابتدایي ورځې وې او طالبانو قندهار او څنګ لوري ځینې نورولا یتونه ونېول نومونږ د لغمان او غربي نورستان ځینې ملګري د مرحوم مولوي رستم نورستاني(رحمت الله علیه)په مشرۍ تحریک سره د یو ځای کیدو په خا طر د قندهار په لوري و خوځیدو کله چې قندهار ته ورسیدو او مشرانو سره مو ملاقاتونه وکړل مونږ د تحریک له مشرانو څخه وغوښتل چې مونږ تشکل ته ولیږي، نو هغوی راسره هم ومنله او زمونږ تشکیل د فراه ولایت ته وشو.

کله چې مونږ په فراه کې وو، نو د اسماعیل خان له خوانه ډیره درنه حمله وشوه چې، ګڼ شمیر طالبان چې اکثریت یې د مدارسو نه راغلي تنکي زلمیان وو او جنګي تجربه یې بیخي نه درلوده شهیدان شول او ګڼ نور ټپیان شول دا لومړی خل وو، چې د تحریک د پیل نه وروسته دومره ګڼ تعداد کې طالبان شهیدان او زخمیان شول، په ټولو ملګرو باندې د غم او خفګان ځادر خور وو.

مونږ د خپلو زخمي ملګرو د تداوی په خاطر له هغوی سره قندهار ته راغلو او د قندهار د ولایت په مقام کې میشته شو، امیرالمومنین ملامحمدعمر مجاهد(رحمت الله علیه) هم د ولایت په مقام کې زمونږ اطاق ته مخامخ اوسیده، چې تر هغه وخته پورې د امیرالمومنین په حیث نه وو ټاکل شوی ،نو ټولو ملګرو به ورته ملا صاحب ویل.

یوه ورځ زمونږ یو ملګري چې د لغمان ولایت د علیشنګ ولسوالی اوسیدونکی وو خپلو ملګرو ته وویل چې راځی له ملا صاحب سره ګورو او د هغو مشکلاتونه یې خبروو چې په مونږ تیر شوي دي او زمونږ پوښتنه اوس څوک نه کوي، په لومړی سر کې ما ورسره مخالفت وکړ، مګر د ملګري د ډیر ټینګار له امله مجبور شو او ورغلو.

کله چې د ملا صاحب اطاق ته ننوتو هغه د خپلو څو ملګرو سره هلته موجود وو، زمونږ په ننوتو سره ټول پاځیدل او له روغبړ وروسته له ناستي سره سم مو ورته خپل خانونه معرفي کړل، بیا دعلیشنګ ملګري

ورته ټول جریان تیر کړ، ملا صاحب یې خبرې په غور سره اوریدې، کله چې ملګري د شهیدانو او زخمیانو کیسې وکړې، نو ملاصاحب ډیر وژل د ملا صاحب په ژړا سره ملګری وارخطا او پښیمانه شول، کله چې ملګري خبرې بس کړې، نو ملا صاحب وویل (ما خو دا تمه نه درلوده ،چې د مدرسې له طالبانو او عالمانو سره به داسی کار کیږي او بیا دهغه چا له خوانه چې خانو نو ته مجاهدین هم وایي).

بیا ملا صاحب له څه خبرو وروسته خپل یو ملګری ته وویل چې دوی بازارته بوځه جامې او همدارنګه نورهرڅه چې ورته پکاروو واخله او بیا بله ورځ ملا صاحب خپله زمور د مریضانو پوښتنې لپاره روغتون ته هم را غې.

څو ورځې وروسته یوه ورځ د غرمې محال وو ،چې له ډوډۍ خوړلو وروسته مونږ ناست وو نا څاپه ملا صاحب د خپلو دوه تنو ملګرو په ملتیا پخپل جیپ موټرکې د ولایت مقام ته ننوت او نیغ د خپل اطاق په لوري لاړ.

دملا صا حب یوه ملګري په اشپز غږ وکړ، چې دوی ته دي ډوډۍ یو سي د علشنګ ملګري بیا وویل مونږ او ملا صاحب خو په یوه دفتر کې د یوه اشپز له لاسه ډوډۍ خورو اشپز مونږ ته خو لېړو(بامیا) راوړل، راځئ وګورو اوامتحان وکړو، چې ملا صاحب هم زمونږ غوندې لېړو خوري او که مور ته لېړو را کوي او خپله چرګې او پلاونه وهي.

بعضو ملګرو وویل چې بدګماني نښه شئ ندی، شکونه مه کوئ! خو ملګري د خپل عادت له مخې ډیر زیات تنګ شو، نو مور یې هم مجبوره کړو چې ورشو.

مور څو تنه ملګري راغلو او د ملا صاحب د کوټې مخې ته تیر شو، سلام مو پرې وا چاوه او هغوی هم ځواب راکړ، د هغوی دستار خوان او وروانديې پراته خوراکونه مور ته له ورایه ښکاریدل، ومولیدل چې ټول هغه خوراکونه ورته پراته وو،چې مور خوړلي وو، یوازې شړومبی پکې زیاتې وې او هغه هم ملا صا حب ته چا رالیږې وې، ځکه هلته د شړومبو هیڅ انتظام نه وو موجود.

کله چې ملګرو دغه صحنه ولیده، نو زمور اعتماد د ملا صاحب په صداقت او اخلاص باندې ډیر زیات قوي شو، او پدې مو زړه متیقین شو چې ربنتونی مشر دی.

دا د تحریک ابتدایي ورځې وې، چې خلکو د ملا صاحب او د هغی د ملګرو په اړه ډیرمعلومات نه درلودل او کله چې د ملا صاحب د صداقت خبرې ټو لو خلکو واوریدلې بیا خو هیڅ قسم امتحان ته اړتیا نه وه.

دا د خپلو ملګرو هغه لنډې خاطرې وې، چې درته وراندې مي کړې، ستر او بښونکی ذات دې په هغی خپل ټول نعمتونه او رحمتونه ولوروي، او مور ته دي د هغوی په نقش اوقدم استقامت نصیب کړي، آمین.

رازونه

(نظام کندهاری)

چې مې په زړه کې پټ ساتلي وه د غم رازونه
و ټول جهان ته کړل ښکاره د سترګو نم رازونه

دا کهکشان را سره درسته شپه په ساندو ژړل
لا هم پراته دي پر زړګي د صبحدم رازونه

لږ وکړه صبر اسرافیله شپېلۍ مه پو کوه
زه عرصات ته هم له ځانه سره وړم رازونه

دا بې تنۍ تکړې تکړې ګریوان ته سپک مه ګوره
پکې پراته به وي د مینې یو عالم رازونه

لیونی نه یم چې ترمه د باروتو احرام
ما ته معلوم دي دا د مینې د حرم رازونه

دا زولنې او دار لا څه دي چې ګوا ښیږي راته
زه خو لرمه د منصور غوندي محکم رازونه

شهید آشنا په آخیري سلګو کې دا سي ویل
چې هېر مو نشي زمونږ د وینو د زمزم رازونه

یو ورځ به نه وي دا (نظام) وي به میلمه د لحد
یو د کاغذ پر مخ بې وینې د قلم رازونه

عقیدت

فتح الله فاتح

راته گرانه ته هرچا یې خوږې مینې
زه یم ستا اوته زمایې خوږې مینې

یې تر تولومېنو ماته ښکلې ښکلې
ته په تولوکې زیبایې خوږې مینې

داطالب وجود مې تاته صدقه دی
ته مې ژوند ته مې بقایې خوږې مینې

زمادین یې عقیده د وحدانیت یې
لااله الاالله یې خوږې مینې

د خبیب رض اود منصوررض د دارکیسه یې
سرو اورونو ته ګدایې خوږې مینې

د قلم ژبه یې ستاپه یاد چلیږې
د (فاتح) د قلم ساه یې خوږې مینیې

په مخه دې ګلونه افتخار د افغانانو

سلطان محمود سادې

په مخه دې ګلونه افتخار د افغانانو
په زړونو کې مو ځای لرې، وې هار د افغانانو

نړۍ درته حیرانه ده همت باندې دې ویاړي
عُمر د زمانې وې قیادت باندې دې ویاړي

راځي تورو تیارو پسې سهار د افغانانو
په زړونو کې مو ځای لرې، وې هار د افغانانو

تاریخ لیکونکی نه وې جوړونکی د تاریخ وې
ګالل دې تکلیفونه سم د حق په لاره سیخ وې

خزان وهلې بن لره بهار د افغانانو
په زړونو کې مو ځای لرې، وې هار د افغانانو

همیش دنیا کې ژوند نشته یقین د مؤمنانو
د حق په فیصلو باندې تلقین د مؤمنانو

ارمان پاتې په زړونو کې دیدار د افغانانو
په زړونو کې مو ځای لرې، وې هار د افغانانو

نصیب دې انعامات د جنتو شه ننګیالیه
تاریخ به دې وي پاتې په نړۍ کې توریالیه

کیسې د غیرتونو کړي اظهار د افغانانو
په زړونو کې مو ځای لرې، وې هار د افغانانو

عسکر د خدای د دین وې او ساتونکی د اسلام
غوښتونکی د اسلام وې او منلونکی د اسلام

